شریعت

اوونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامی تحریک مرکزی نشراتی ارگان

دوهم کال دري څلويښتمه گڼه پرله پسې (۹۳)

چهارشنبه د۱۳۷٦ هـ ش کال د لړم دمیاشتي (۷)

د۱۹۹۷میلادي کال اکتوبر (۲۹)

د۱٤۱۷هـ ق کال د جمادي الثاني(۲٦)

الهي فرمان

« اي هغو کسانو چي ایمان يي راوړي دي (اي مؤمنانو!) ولي هغه څه وایاست چي عمل وربانديي نه کوئ؟»

(الصف-۲)

نبوی ارشاد

هر آمر که څه هم په لسو تنو آمر وي د قیامت په ورځ به په ځنځیر کښي تړلي حاضر کړي شي او وروسته څه محاسبه ورسره وشي نو که عدالت يي کړي وي نو عدالت به ورځني دفاع وکړي او که ظلم يي کړي وي نو ظلم به ئي هلاك کړي .

دارمي

تذکر خطر ایمان است اگـر به این کلمات مقدس بي حرمتي کنید .

محترم الحاج ملا محمد رباني رئیس شـورای سرپرست نماینده گان هشت اجنبي قبایل را غرض ملاقات در قصر گلخانه امارت بحضور پذیرفتند

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش داد : در ملاقات در حالیکه محترم الحاج ملا محمد حسن اخند سرپرست وزارت امور خارجه ، محترم مولوي جلال الدین حقاني سرپرست وزارت امور سرحدات، محترم ملا امیر خان «متقي» سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور و عده از اراکین امارت اسلامي حاضر بودند نماینده گان قبایل حمایت و پشتیباني شانرا از امارت اسلامي افغانستان ابراز نموده گفتند امارت اسلامي افغانستان با تمام ص۴،

د قبایلو د لویې جرگې پریکړه لیك

د قبایلو درنو عالمانو مشرانو ، مخورو او د خلکو استازو په انټر کانټینینټال هوټل کي له دوه ورځني سراسري جرگي وروسته په اوو مادو کي په دي شرحه یو پریکړه لیك تصویب کړ :

ټول قبایل د افغانستان اسلامي دولت د غوارلس کلن مقدس جهاد د قربانیو ثمره او په شرعي او بین المللي اصولو برابر حکومت بولي .

۲- ټول قبـایل په یوه غـږ په اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو پږغ کوي چي د طالبانو سپیڅلي اسلامي امارت په رسمیت وپیژني .

۳- هر هغـه څـوك چي د افغانستان د اسلامي امارت څلورم مخ

نهه جهادي قوماندانان له اسلامي اردو سره یو ځای شول

د عـالیقدر امیـر المؤمنین د بخښني له فرمانه په استفادي سره په دي وروستیو وختو کي د کونړ ولایت په مربوطاتو کي نهه تنه جهادي قوماندانان د اسلامي اردو له مجاهدینو سره یو ځاي شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر واکي قوماندانان هر یو میراجان رحمن گل ملك چندر، ملك شاه محمود ، حاجي امتخان ، مولوي عبدالرحمن، ملك عبدل ، ملك عزم الدین او حاجي کمال د افغانستان د اسلامي امارت په رښتینولي باندي په پوهېدو سره له خپلو وسلو اومهماتو سره د کونړ ولایت د نورگل او پیچ د ولسوالیو په مربوطاتو کي د اسلامي اردو له څلورم مخ

هیئت عالي رتبه امارت اسلامي افغانستان از بند سرده ولایت غزني دیدن به عمل آورد

هیأت وزارت هاي زراعت ، آب و برق و ستره محکمه از تاسیسات بند سرده،ولایت غزني دیدن بعمل آوردند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد هیأت متذکره تحت ریاست محترم عبداللطیف منصور سرپرست وزارت زراعت بشمول نماینده گان ستره محکمه و وزارت هاي آب و برق و زراعت بهاساس هدایت مقام شوراي سرپرست امارت اسلامي افغانستان به ولایت غزني سفر نموده از تاسیسات بند سرده دیدن بعمل آورده و بخاطر بهبود امورات مربوط به مسولین آنجا هدایات لازم دادند .

د افغانستان د اسلامي دولت په نامه کي د دولت پرځاي د امارت له کلمي نه د استفادي په هکله حکم

د جناب عالیقدر امیر المؤمنین د ۱۳۷٦ کال د تلې د میاشتي د یوویشتمي نیټي له لاز شوونې سره سم له دي وروسته د افغانستان اسلامي دولت د افغانستان اسلامي امارت په نامه یادیږي .

ټولي موسسي، دولتي اداري او د افغانستان د اسلامي امارت نور اتباع دي ددغه نامه په رواجولو کي هڅه او هاند وکړي .

د سرپرستي شوري محترم مرستیال د قبایلو له عالمانو مشرانو او استازو سره وکتل

د افغـانستـان د اسلامي امارت د سرپرستي شورا مرستیال او د خښځ زون تنظیمه رئیس محترم مولوي عبدالکبیر په دي وروستیو وختوکي د قبایلو له عالمانو ، مشرانو او مخورو سره د جلال اباد په ښار کي وکتل .

اتلورم مخ

د کانونو او صنایعو سر پرست وزیر الحاج مولوي احمد جان له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي :

له هیواد نه بهر میشته افغاني متخصصینو او انجنیرانو ته مو بلنه ورکړیده چي د گازو او تیلو د پایپ لاینو د غزولو په کار کي خدمت وکړي

محترمو لوستونکو ! د کانونو او صنایعو وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي احمد جان په دي وروستیو کي له یو اوږده سفر نه راستون شویدي موږ د دوي د سفر د اهدافو او نتایجو نه د هیوادوالو د خبرولو لپاره له دوي سره مرکه کړېده چي لوستلو ته يي ستاسو پام را اړوو .

پوښتنه : محترم حاجي صاحب تاسي د یو هیئت په مشري په دي وروستیو کي ترکمنستان ته سفر کړي وو ددي سفر نه مو هدف څه وو او څه نتیجه مو تر لاسه کړه ؟

ځواب : موږ له ډیري مودي را پدیخوا غوښتل چي د منځني اسیا هیوادونو ته سفر وکړو او په اخر کي چي د گازو د پایپ لاین مسئله د څو موسسو تر منځ گرمه شوه او موږ ته يي د قرار داد لپاره مراجعه کوله نوموږ وغوښتل چي وروړ گاونډي هیواد ترکمنستان ته سفر وکړو تر څو د هغوي نظر معلوم کړو چي هغوي له چا سره قرار داد کوي او کومي کمپني هغویته په زړه پوري دي او هغه کمپني پاکستان ، افغانستان او ترکمنستان ته ډیر امتیازات ورکوي . د هغوي نظر مو معلوم کړ الحمد لله د افغانستان په اړه د هغوي نظر ډیر مثبت وو موږ، هغوي ته دا واضحه کړله چي د افغانستان له لاري پایپ لاین تیرول د نورو لارو په اړوند ډیر لنډ او اقتصـادي دي د مثال په ډول د ترکمنستان مقاماتو مو دا ویلي دي چي که تاسي سل متره مکعبه گاز په یو ډالر ورکړئ نو که له افغانستان نه پرته په نورو لارو يي تیر کړي نو فایده مو به پنځه ویشت سنته او لگښت به مـو پنځـه او یا سنته وي او کـه د افغانستان له لاري تیر شي نو لگښت به مو پنځه ویشت او گټه به مـو پنځـه او یا سنته وي او د ترکمنستان د مقاماتو او نورو کمپنیو او موسسو هم همدا خوښه وه چي دا پایپ د افغانستان له لاري تیر شي ځکه یو به ډیر ژر او په کم مصرف او بل به اسانه تیر شي بیا موږ د پاکستان ، افغانستان او ترکستـان د هیوادو د څلورم مخ

محترم مولوي احمد حسن جان «مسوندي» له شریعت اوونیزي سره په مرکه کي :

که روس او هند په افغانستان کي مداخله کوي دومره د تعجب وړ نه ده موږ حیران ایران ته یو چي د اسلامي جمهوریت دعوه هم لري او د شرعي نظـام پر ضد هلي ځلي کوي

درنو او محترمو لوستونکو ! تاسي به خبر یاست چي د رواني (لړم) د میاشتي په دوهمه او دریمه نیټه چي د جمعي او شنبي له ورځو سره سمون خوري د ازادو قبایلو دانو ایجنسیو په سلهاو علما، و مشرانو او سپین ږیرو د کابل په انټرکانټیننټل هوټل کي د افغانستان د اسلامي امارت او د طالبانو د اسلامي تحریك سره د ملاتړ د څرگندولو او تکرارولو او له اسلامي امارت او د څلورم مخ

پـه لغمان کـي د نظـار شوري یو ویشت تنه جاسوسان ونیول شول

د نظار شورا یوویشت تنه شر اچوونکي جاسوسان په دي وروستیو وختو کي د لغمان ولایت په مربوطاتو کي ونیول شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د نظار شورا لخوا گومارل شویو شر اچوونکو د شمال د بدنام ائتلاف د ناوړو هدفونو د تر سره کولو په خاطر چي غوښتل يي د یوي زیاتي اندازي پیسو په ویشلو سره د لغمان ولایت په مربوطاتو کي سوله او امنیت گډوډ کړي په دي وروستیو وختو کي ددغه ولایت د څلورم مخ

دوه جهادي قوماندانان مامور بهرام او حـاجي عبدالخـالق د لوگـر په ولایت کـي له اسـلامي اردو سره یو ځاي شول

د عالیقدر امیر المؤمنین د بخښني له فرمان نه په استفادي سره په دي وروستیو وختو کي دوه تنه قـومانـدانان د لوگـر ولایت په مـربوطاتو کي د افغانستان د اسلامي امارت سره یو ځاي شول د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ قوماندانانو هر یو مامور بهرام او حاجي عبدالخالق د افغانستان څلورم مخ

د فراه په ولایت کي ډیري وسلي او مهمات تر لاسه شول

یوه اندازه وسلي او مهمات په دي وروستیو وختو کي د فراه ولایت د امنیه قوماندانۍ د موظفینو لخوا ددغه ولایت له مربوطاتو نه کشف او تر لاسه شوي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغو وسلو او مهماتو کي پنځلس کلاشینکوفونه یو پنځه اویا ملیمـتري توپ یوه داشکه ، یو توغندي، د هاوان څلور یوه پنځوس گولي ، د توغندي پنځوس څلورم مخ

به مقیاس (۲۱٦٥۹۲) متر مربع ساحات شهر کـابل از وجود ماین ها پاکسازي گـردید

به مقیاس ۲۱٦٥۹۲ متر مربع ساحات شهر کابل اخیراً از وجود ماین ها و مواد منفلق تا شده پاکسازي گردیده است

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد ساحات متذکره که شامل مناطق تپه کـارته نو ده یحي مربوط ولسوالي ده سبز و نو اباد ده کپیك مربوط ناحیه چهارم شهر کابل میگردد توسط موسسه اي تي سي اخیراً از وجود ماین ها و مواد منفلق تا شده پاکسازي شد اهالي محترم ساحات نامبرده بدون کـدام مانع و مشکل در این مناطق گشت و گذر نمایند .

تعمیر جدید شفاخانه اتاتی اعمار و افتتاح گردید

تعمیر جدید شفاخانه اتاتي که قبلاً قرار داد ساختمان آن بین وزارت صحت عامه و سازمان صحي جهان عقد شده بود افتتاح گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد کار تعمیر جدید شفاخانه اتاتي که چندي قبل انعقاد قرار داد ساختمـاني آن بین وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان و سازمان صحي جهان صورت گرفته بود توسط محترم دوکتور سید فضل الرباني معین وزارت صحت عامه و آقاي داکتر عمر جبرالیلي نماینده سازمان صحي جهان در حالیکه عده یي از روسا وزارت صحت عامه نیز حاضر بودند افتتاح گردید

ص۴،

دویم مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د افغانستان په هکله د امریکي پالیسي گونگه شانته بنکاریږي

دا څو ورځي کیږي چي د امریکا غږ رادیو د هغه هیواد د بهرنیو چارو په وزارت کي د سویلي آسیا لپاره مرستیال (کارلي اندري فرست) خبره غبرگوي!

فرست د مشرانو جرگي فرعي جرگه ته په خطاب کي څو خبري کړي دي او هغه يي د افغانستان په هکله د متحده ایالتونو پالیسي بللي ده :

ده ویلي دي : « د ملل متحد ، نورو او متحده ایالتونو په وار وار هلي ځلي ددي لپاره چي په جنگ اخته لوري خبرو ته سره کینوي بي نتیجي ختلي دي، یوازي هغه وخت یو لوري خبروته تیاري ښکاره کړي چي د جنگ په ډگر کي ماته وخوري بیا چي کله يي بریالیتوب په برخه شي له خبرو اترو نه ووزي، اجازه راکړي چي زموږ نگلاره د افغانستان په هکله واضح کړم :

متحده ایالتونه د افغانستان د ولو په هکله بي طرفه دي، موږ یوازي سوله غوښتونکي، با ثباته متحد او مستقل افغانستان غواړو چي نه د چا تر تهدید لاندي وي او نه يي گاونډیانو ته خطر مخامخ وي ده وویل : د افغانستان خلك او گاونډیان يي په دي هکله یوه خوله دي، دغه مطلب ته د رسیدلو لپاره د متحده ایالتونو هدف : په لنډه موده کي اوربند او په اوږده موده کي د یوه کثیر التزادي او پراخ بنسټ حکومت جوړول دي چي د ټولي والو معیارونو رعایت وکړي!

د خبرو په یوه بله برخه کي يي ویلي دي : په واشنگټن کي د افغانستان سفارت تړل د متحده ایالتونو د بي طرفي یوه بله نښه ده موږ، هغي ورځي په انتظار یو چي د افغانستان په سفارت کي هغه دیپلوماتان په کار پیل وکړي چي د خلکو واقعي نمایندگان وي ... »

موږ وایو، متحده ایالتونو د رنگ شوي شوروي اتحاد د تجاوز په وخت کي له افغانانو سره هر اړخیزي مرستي کړي دي چي افغانان يي نه هیروي او د قدر په سترگه ورته گوري، د هغو مرستو په پام کي نیولو سره افغانانو له متحده ایالتونو ته نور هم ښه توقعات لرل، مگر اوس ویني چي متحده ایالتونه د دوي دهیلو او ارمانونو په خلاف تگ لاره غوره کړي ده ، پاته شوه دا خبره چي د ملل متحد او نورو په وار وار هلي ځلي بي نتیجي ختلي دي ، یو خو له دي امله چي تاکل شو و استازو د مسئلي په طبیعت او ابعادو پوره بلدیت نه درلود له داسي افغانانو او دوهم مخ

به مناسبت اولین سالـگرد فتح کـابل جشنواره ورزشي دایر گردید

خبرنگار هفته نامه شریعت گزارش داد :

به اهتمام کمیته ملي المپیك جشنواره بزرگ ورزشي به مناسبت اولین سالگرد فتح شهر کابل (بدست لشکر محمدي) قبل از ظهر جمعه دوم عقرب در ستدیوم ملي ورزشي کابل دایر گردید .

در این جشنواره برخي از اراکین تحریك اسلامي طالبان، جمعي از روسا بلند رتبه امارت اسلامي ، هیئت رهبري کمیته ملي المپیك، ص۴،

غربیان اسـلام د خپل لوي دښمن په توگه پیژني

د پاکستان جمهور رئیس فاروق احمد خان لغاري

غربیان اسلام د خپل لوي دښمن په توگه پیژني او اسلامپالني باید یوه شي چي په اسلام باندي د غربیانو د ناځوانمردانه یرغل مخه ونیسي .

د نړیوالو خبري سرچینو د خبر له مخي د پاکستان جمهور رئیس فاروق احمد خان لغاري د لاهور ښار په الحمرا هوټل کي (د حرمین شریفین سفرنامي او نوي عصر) تر عنوان لاندي دایر شوي سیمینار ته په خپل خطاب کي وویل : نوي عصـر د افکارو او نظریاتو عصـر دي او د ساینس او تکنالوژي په واسطه د خلکو ذهنونو ته جهت ورکوي او حتي په خپله گټه يي استعمالوي د ایډیولوژیو جنگ په شدت سره روان دي .

فاروق احمد خان لغاري وویل : له یوي خوا د غرب کلتور دي چي اسلام خپل سر سخته دښمن گڼي او همدا راز غربیان هم د همدي څلورم مخ

خبرتیا

د شریعت اوونیزي اداره په بهر کي میشته و افغان مهاجرو ورونو ته چي په شـریعت اوونیـزه کي گـڼون لري او یا په راتلونکي کي گـډون کـوي خبر ورکوي چي : د اشتراك وجه یوازي او یوازي په لاندي جاري بانکي حساب را ولیږي او له نورو لارو نه يي له رالیږلو نه ډډه وکړي .

Account No :
71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar

مؤسسه پاملرنه در نظر دارد تا هزار باب تشناب عصـري در پـروژه رحمـن مینـه اعمار نماید

خبرنگار هفته نامه شریعت گزارش داد : بخش ساختمـاني مـوسسـه بین المللي پاملرنه به همکاري ریاست پمـا و شـاروالي کابل توانسته است که طي ششماه اخیـر سـال جاري در پروژه رحمن مینه کابل، یك کانال عمومي را از ساحه کارته نو الي دریاي لوگر به طول مجموعي ۷٥۰۰ متر که ۹ پلچك بالاي آن قرار داده شده است ، بشکل پخته و اساسي اعمار نماید .

همچنان ۸۰٪ جویچه هائیکه در کنار سرك هاي اصلي ص۴،

پروتوکول همکاري ترانسپورتي بیـن ریاست تصدي خـانه سازي و موسسه سولیـدارتي به امضـا رسید

پروتوکول همکاري ترانسپورتي بین ریاست تصدي خانه سازي و موسسه سولیدارتي به تاریخ ۲ عقرب به امضا رسید .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : پروتوکول متذکره را محترم ملا عبیدالله حلمي رئیس تصدي خانه سازي و رئیس آن موسسه امضـا نمودند که طي آن پانزده وسایط ترانسپورتي و پنج عراده وسایط ماشیني در بدل امتیازات مالي به مدت سه ماه در اختیار موسسه مذکور گذاشته میشود که ارزش آن مبلغ دو صدو بیست و پنج ملیون افغـاني عـاید دولت میگردد .

د بنده ایمان تر هغه نه برابرېږي تر څو يي چه زړه نه وي برابر، او زړه يي تر هغه نه برابرېږي تر څو يي چه ژبه نه وي برابره شوي

حضرت رسول اکرم ﷺ

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریك
دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغاني
په پاکستان کي (۲) کلداري
آدرس : کابل وزیرأکبر خان مینه/سرك۱۱/ کور (۵۲۰)
تیلفون : ۲۱۲۸۱ - توزیع و شکایات ۶۲۸۵۹
پوست بکس : (٤۷۱)
په پیښور کي : دطالبانو نمایندګی/ تیلفون: ۸٤٤۲۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵۶۲۷
جاري حساب : ٤۰۲۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز

د سرمقالي پاتي برخه

لورو څخه به یې مشوري او معلومات تر لاسه کړل چي هغوي په مسئله کي څو د غرضه وو نه یې غوښتل چي مسئله د دوي د هیلو په خلاف حل شي او یا له داسي کسانو نه چي هغوي هم نه مسئلې ته پردي او لري په بهرنیو هېوادونو کي لا اوس هم پراته دي یې ګټې غوندي او ولا د یو یې مصاحبې کړي چي خپل تمویل کوونکي وړاندي وغولوي؛ بل له دي امله چي هغو استازو به د مسئلې حل په هغه شان غوښت چي له غربي طرز سره سمون وخوري مګر د افغانستان خلك چي پاخه مسلمانان دي د مسئلي داسي حل غواړي چي له اسلامي شریعت سره سمون وخوري د لکونو شهیدانو «رح» ارمان یې هم دغه ؤ . بل له دي امله چي ملل متحد د مداخله کوونکو هېوادونو د بریښو لاس وهنو مخنیوي نه کاوه او نه یې پوهېدل چي هغه هېوادونه خپلي مزدوري ډلي د سولي له بهیر نه یې لاري کوي او ګیډرو خبرو اترو ته یې نه پریږدي؛

فرست ویلي دي چي « په جنګ اخته لوري بوازي هغه وخت خبرو اترو ته تیارېږي چي د جګړې په ډګر کي ماتي وخوري ... » که چیري د ده خبره د افغانستان د اسلامي امارت د سولي او خبرو اترو وروستني وړاندیز ته اشاره وي چي له هغه نه مخکي د طالبانو د اسلامي تحریك د مجاهدینو څواکونه له مزار شریف نه را په شا شول نو دا خبره یې بې ځایه ده؛ یو له دي امله چي د افغانستان اسلامي امارت له پیل نه د سولي وړاندیزونه یو په بل پسې کړي دي او کوي یې چي دغه وروستي وړاندیز هم د هغي لړۍ یوه کړۍ ده؛

بل له دي امله چي د اسلامي امارت څواکونو مزار شریف په عملیاتو کي شکست نه، بلکي له عزم، احتیاط او عسکري تدبیر سره سره یې هغه څه تر لاسه کړل چي غوښتل یې؛ یو دا چي د ګلم جمانو او کشتمند د ملیشو جنګ څواك یې په یو مخ له پښو نه وغورزاوه او بل یې د جبهاتو د وسلو، مهماتو، ترانسپورتي وسائلو، پرزو، تیلو او لوژستیکي موادو زیرمي راټولي کړي او په ولایت زړه یې خپلو سیمو ته راورسولي؛

فرست ویلي دي چي « ... متحده ایالتونه د افغانستان د ټولو په هکله بې طرفه دي ... » مونږ وایو په دغه خبره کي شك لرو؛ یو له دي امله چي په واشنګټن کي یې د افغانستان سفارت له دي ویري نه وتاړه چي د افغانستان اسلامي امارت ته د تسلیم کیدلو په درشل کي ؤ او په نیویارك کي یې د افغانستان کونسلګري ددي لپاره خلاصه پریښوده چي هغلته د معزول او یې درکه رباني د استازي لپاره چانس پکښي ؤ بل له دي امله چي د ملل متحد په ۵۲ عمومي غونډه کي د افغانستان په کرسي د افغانستان د مشروع او ملت له غوښتني سره امارت د استازي پر ځاي د رباني استازي د متحده ایالتونو په اثر او رسوخ کینول شو، که دا نه وي نو بیا ولي متحده ایالتونو د واشنګټن د سفارت په خبر د هغي کرسي د خالي پریښودلو وړاندیز ونه کړ؛ له دي نه معلومیږي چي متحده ایالتونه د معزول شوي رباني پلوي کوي ځکه چي له رباني څخه هر رنګ کار اخیستلاي شي؛ فرست ویلي دي چي « مونږ صرف سوله غوښتونکي ، با ثباته، متحد او مستقل افغانستان غواړو ... » مونږ وایو دا سمه او په زړه پوري خبره ده که په ریښتیا یې کوي مګر مونږ په دي خبره کي بیا هم شکمن یو، ځکه : د افغانستان اسلامي امارت د دغو ټکو د تحقق لپاره ډېر کار کړي دي او یې دریغه قرباني یې ورکړي دي چي له ډېرو په ډېرو برخونه زیات هېواد کي یې دا هر څه په ځاي کړي دي، هغه امنیت چي د هر چا په اند (فکر) ناشوني ؤ هغه یې قایم کړي دي او غیر مسؤل کسان یې خلع سلاح کړي دي چي دا هم نا شوني خبره ښکارېدله. له دي وړاو سره سره یې متحده ایالتونه تایید نه کړي دا ولي ؟! مونږ وایو کېداي شي متحده ایالتونه په هغسي افغانستان غواړي چي د ایس خو دا باور مو بیخي پوخ شوي دي چي اسلامي نظام او شریعت نه پکښي غواړي [illegible] فرست ویلي دي چي «... دغه مطلب ته د رسیدلو لپاره د متحده ایالتونو هدف ...» په لنډه موده کي اوریدل او په اوږده موده کي د یوه ګڼشمیر التزادي او پراخ بنسټه حکومت جوړول دي چي د نړیوالو معیارونو رعایت وکړي ... » مونږ وایو دا سمه خبره ده مګر د ګڼشمیر التزادي او پراخ بنسټه حکومت مفهوم له مونږ سره دا دي چي په هغه حکومت کي د هېواد د ټولو قومونو برګنو او سیمو پرهیزګاره، پوه، امین او په ملت او هېواد خوا خوږي مسلمانان برخه ولري، خو د متحده ایالتونو او د ملل متحد د ناکام شوو استاځو سره د هغه مفهوم دا دي چي : په هغه حکومت کي د طالبانو له اسلامي تحریك سره هغه ډلي دا ډاله شي چي وسله ورسره ده ، د هېواد د خلکو په سر، مال ناموس بیت المال، ملي شتمنیو یې هیڅ صرفه نده کړي د خلکو په سرونو یې میخونه ټکولي دي، د مړو د رقص او د اسیرانو سخو د ولادت ننداري یې کړي دي، د سخو تي یې په ژوند وردڅخه پري کړي دي، د انسانانو غوښي یې په اسیرانو خورلي دي او - له ناسي نه حیا - د اسیرانو په خوله کي یې بولي کړي دي او ... ! نعوذ بالله تعالي - دغسي خلك د ملت پوروړي دي او یو وخت به حساب ورسره کوي - نو تاسي ځنګه داسي لیوني هڅي کوئ چي دا خلك په زور په ملت ورونیسي او وړياندي حاکمان یې کړي؟! او لا بیا هم د بشر د حقوقو د حمایت چیغې وهئ ؟!

پاته شوه د نړیوالو معیارونو د رعایت خبره ؛ مونږ هغو نړیوالو معیارونو ته په درنه سترګه ګورو او رعایت یې کوو چي له اسلامي شریعت سره ټکر نه کوي، او هغه معیارونه چي له اسلامي شریعت سره سمون نه خوري د هغو په وړاندي مونږ د خپل شریعت د حکم پابند یو، د الله تعالي له حکم سره د مخلوق معیارونه نشي برابرېدلاي .

خوبونه او نیتونه

پتي پاڼي

شهرت ننګیال

ناپلیون چي کله د اقتدار له غرور نه راولوید او په یوه لیري پرته او وړوکي جزیره کي یې د تبعید شپې ورځې تیرولې نو دا مرعات یې درلود چي په هغه کوچني جزیره کي پر تخت کښني شاو خوایي ساتونکي او د تن په اصطلاح باډیګاردان ولاړ وي او دي پخپل دربارکي لکه دیو پر حال امپراتور اکتونه وکړي او د خپل عادت مجبوریت تر سره کړي ده به دا سارت او تبعید په هغو سختو ورځو کي هم لکه د یوه څواکمن امپراتور په بڼه د لږ وخت لپاره ځان جوړ کړ د چا د اعدام د چا د بند او د چا د ټاکني او عزل هوایي فرمانونه او حکمونه به یې صادر کړل او عملي به یې د پادشاه سلامت او عمر دي ډېر شه پادشاه ناري پورته کړي .

وایي چي ده به هره ورځ د څه وخت لپاره دالو به تکرارولو او د خپل هوس تنده به یې پر دغه ډول حرکتونو ماتوله .

مرحوم داؤد خان چي د چنګاښ پر ۲۶ د توپ پریوه ډز یې جنرال عبدالولي چي پر افغانستان یې د حکومت چلولو لپاره خپله پوځي خولي هم پسنده پلله تسلیم او د دهمزنګ زندان په کرنیل کلاکي بندي کړ نو ده به هم د ورځي یو ځل د جنرالي دریشي واغوستله او د یوه پر حال او مقتدر جنرال قیافه به یې غوره کړه د بندي خاني په کوټه کي به یې ګرځندي او درانه قدمونه واخیستل او له اقتدار نه د محرومیت درد به یې پر دغسي کړنو تسکیناوه .

څیني بیا داسي وي چي له شکست وروسته ورته ژوند بې مفهومه او بې خونده شي هتلر چي ماتي وخوړه انتحار یې وکړ نه یوازي انتحار بلکي له خپل یوه نږدې انډیوال یې وغوښتل چي مړي یې هم وسوځوي .

ظاهر شاه بیا د داؤد خان د سپیني کودتا پر دریمه ورځ له روم نه په یوه لیك خپله استعفی او د جمهوریت مبارکي راولیږله او په دغو څو کرښو کي یې د خپل څلویښت کلن سلطنت انجام انځور کړ .

څه د پاسه یو کال کیږي چي ښاغلي رباني مسعود او انډیوالان یې له اقتدار نه د محرومیت په مزمن رنځ پراته دي - کله نا کله د دوي د تبي درجه دومره لوړه شي چي په اپلتو سر شي او په ویښه هم خوبونه وېني .

دوي نه د هتلر زړه درلود او نه هم د ظاهر شاه زغم . ناپلیون بیا هم ښه ؤ په یوه وړوکي جزیره کي خو د خپل واك اختیار خاوند او دا مراعات یا امتیاز یې درلود چي په خلاص زړه او ازادي سره د امپراتوري اکتونه وکړي خو رباني جان له هغسي موقف، موقعیت او اکتونو هم بې برخي دي - داسي چي د خپلي امپراتوري پایتخت (تالقان) ځاي نه ورکوي تر دي چي ددغه نا استوګن امپراتور په سفر او سرګرداني کي څو څو واره خپلو انډیوالانو لوټلې هم دي حتی چي د سپرلي موټر یې هم تندي ور پري ایښي دي ددي چانس او مرعات هم نلري چي په اوونی کي یو ځل د کابل د ارګ او یا هم د ډګر د سنګو په یاد او خوند کي د واکمن او جمهور رئیس داکت او نزاکت وخت وموندي شي پدغه سرګرداني اولالها پلاندي کي له نورو ګواښونو پرته د احمد شاه مسعود په تندي او څیره کي د خپل قسمت او تقدیر، د فیصلي د کرښو ځارلو اولوستلو نه هم ددوي سترګي څلور وي چي هسي نه بې ضرورته ونه ګڼل شي او د وفادار شاګرد په پله د نابغه استاد په حق کي د بالنبت پریکړه نه وي شوي .

په خبرونو کي راغلي چي پوځي او سیاسي کشمکشو نو رباني له روانې فشارونو سره مخامخ کړي او دغو فشارونو د ده خوبونه ور حرام کړي دي ځکه خوبي د ډاکترانو په وینا تر خطرناك حده د خوب د ګولیو استعمال ته لاس اچولي دا هم کېداي شي چي د خوبونو جهان یې ځکه خوښ کړي دی چي تیر وختونه جمهوري ریاست او ارګ په خوب وویني او د څه شیبي لپاره ددغه مصنوعي خوښي په خوندونو کي ډوب او د قدرت غوښتني غریزه سړه کړي - که داسي نه وي نو د خوب ګولي خپله یوه نشه ده چي ډرد ډرد زړور اخلي او پر تیغ ځي وایي چي اقتدار هم یوه نشه لري ډېره ډېره نشه - د نشو اعتیاد خطرناك دي، ډېر خطرناك په نشو معتاد ډېر ژر د خلکو د ټوکو شي که ځان یې نه مني د جسم او کارخانو پر ډړیان دي وګوري .

* * *

«خیال پلو» بیا د وېښي خوب دي چي د خوب له ګولیو پرته په ډېره اساني تر لاسه کېداي شي ځکه خو د همدغه خیال پلوونو له برکته د استاد رباني د حکومت ! کابینې !!! ټاکنو، او برطرفي لړۍ روانه ده !!

خو ټول خوبونه ریښتیا نه خیږي ډېر خوبونه داسي وي چي بې تعبیره پاتي شي دا هم وایي چي د خوبونو تعبیر اپوته راوځي د غفورزي د الوتکي حادثه ددغه ډول خوبونو یو نقد تعبیر دي چي فکر نه کېږي بل څوك به د استاد د خوبونو او خیال پلوونو د تحقق لپاره ځان د قرباني ګډوري وګرځوي .

د وروستینو خبرونو له مخي د تالقانو امپراتوري په قلمرو کي دا ځل د کورنیو چارو وزارت له حزب وحدت سره وعده شوي که داسي وي نو د ائتلاف دغه ژمنه د دوي د هغه نیت او عمل نه نوره هم پرده پورته کوي چي غاړې په نویو او پراخه ابعادو د تیر وحشت، تاتار او بربریت فاجعه یو ځل بیا تکرار کړي ددي معنا او هدف لدي پرته بل څه نشي کېداي چي حزب وحدت به د کورنیو چارو وزارت له صلاحیتونو او اختیاراتو نه په استفادي سره هېوادو افغانانو په سرونو کي میخونه ټك وهي د ټولو سترګي په ژوندوني تري باسي په کانتینرونو کي به د ژوندیو انسانانو د سوځولو تجربي لا پراخه کړي د «رقص مرده» پروګرامونه به په ټول هېواد کي ننداري لپاره وړاندي کوي او پدي توګه به دغه ډول جنایتونه او فجایع هېواد شموله او د وحشت او بربریت دائره ټول هېواد ته غزوي .

که داسي نه وي نو ائتلاف ځنګه حزب وحدت ته د کورنیو چارو وزارت د سپارلو وعده ورکړي .

په باور سره ویلي شي چي د ائتلاف دغه پریکړه د حزب وحدت د هغه ماضي او سابقي له مخي شوي چي د ظلم وحشت او بربریت په برخه کي یې لري چي یاد یې اوس هم زموږ د هېواد والو لپاره ویروونکي او مرګوني دي .

سړي حیران شي چي ائتلاف په کومو سترګو د ژغورني او نجات نوم اخلي پداسي حال کي چي پخپل لاس مظلوم افغانان د حزب وحدت د قصابانو منګولو ته اچوي او یو ځل بیا یې پر ژوند عزت او ناموس د تیري او تاتار د لوبي تکرارولو هڅه کوي که څوك وایي چي د ائتلاف د چوکیو ویش د هغدي لپاره دي چي څوك په کوم ډول جنایت کي مهارت، سابقه او تجربه لري نو بیځایه ځکه نه شي ګڼل کېداي چي حزب وحدت ته د کورنیو چارو وزارت د سپارلو وعده د همدغه مهارت،تجربي او سابقي له مخي شوي که نه نو هیڅ دلیل او جواز نه لیدل کیږي چي دغسي یو مهم او درونډ مسؤولیت دي څوك بوي داسي ډلي او افرادو ته ورکړي چي هیڅ وړتیا یې نلري .

وایي چي چنګیز خان خپل یو پوځي پدي اعدام کړ چي : کله ده د خپلي نیزې څوکه د یوه تي خوري ماشوم په خوله کي د هغه د وژلو په نیت ننویستله هغه په سینه پري شوتهږي کېبودي او دي ژړوله ده پري زړه وسوځید او له وژلو یې تیر شو کله چي دا خبره چنګیز ته ورسیده وېي ویل زما زړه سوانده عسکر ندي په کار رحم له هر څه زیات زما د اقتدار لپاره خطر دي ځکه خوبي سملاسي هغه عسکر په اعدام محکوم کړ .

معلومیږي چي ائتلاف په هر سر کي د میخ ټکو هلو او په هر زړه کي د خنجر ښخولو پلان او پروګرام لري چي نه په کوم سر کي د ازادي فکر پاتي شي او نه په کوم زړه کي د وطن مینه او که رباني صاحب دغه ورکړي او ټاکني د واکمني اکتونه او له اقتدار نه د محرومیت د درد د تسکین او خپل عادت او مجبوریت له مخي کوي نو بیا دي پوه شه او د کوټنحاري خوبونه یې .

د شریعت تبصره

اوج گیري دامنه تنشها و تنازعات سیاسي میان دو قطب محوري قدرت در ایران

اوج گیري دامنه تنشها و تنازعات سیاسي میان دو قطب محوري قدرت در ایران نظیر: چپ گرایان افراطي تحت رهبري ایت الله ناطق نوري، که از حمایت خامنه اي نیز برخورد دار میباشند از یك سو و میانه رو ها به رهبري ایت الله خاتمي رئیس جمهور جدید از سوي دیگر سبب تشدید فزاینده بي ثباتي سیاسي در جامعه بحران زده ایران شده است به گونه اي که هر یك از دو اردوي سیاسي معارض با بهره گیري از اهرم ها و تکنیك هاي نا مطلوب و تشبث به ابزار ها متنوع در چارچوب حملات لفظي، اجراي مانور هاي تبلیغاتي و ابراد اتهامات و افترآت تند نیت به همدیگر، در راستاي حذف رقیب از صحنه از هیچ فرصتي فروگذار نمي کنند . اوج این تقابل و رویا رویي سیاسي، حکومت خاتمي را از حالا با درد سر هاي جدي مواجه ساخته است با آنکه عده از کار شناسان اوضاع ایران را عقیده بر آنست که حکومت خاتمي تا آنگاه بر اریکه قدرت باقي خواهد ماند که از حمایت رهبر مذهبي ایران (خامنه اي) بر خوردار باشد .

اما تناوب مشکلات دروني و بقیه نا ارامي هاي سراسري و خارجي کشور ایران نشان میدهد که کمتر میتوان با این عقیده همنوا گردید .

سلف ایت الله خاتمي (حکومت رفسنجاني)بهمان مشکلات، نا بساماني ها دست و گریبان بود که حال خاتمي به آن مواجه است و حکومت مشار الیه به وجود ان مشکلات در اداره خویش معترف است . اختلاس دارایي هاي عامه، سؤ استفاده از قدرت، ارتشا اداري بمقیاس وسیع آن که بسیاري از رجال هر دو جناح علي السویه به آن متهم اند، سرو صداي زیادي در مطبوعات داخل و خارج ایران بوجود آورده است که سال گذشته در همین ارتباط هاشمي رفسنجاني که کنون ریاست شوراي مصلحت نظام را به عهده دارد ناچار گردید تا روي پرده تلویزیون ظاهر گشته و کمیسیوني را براي بررسي سؤ استفاده هاي گسترده مالي تعین نماید و چنین عملي آنگاه صورت گرفت که جناح مخالف موصوف در پارلمان و در نشریات وابسته خود خواستار کنار رفتن حکومت وي گردیده بودند .

حکومت خاتمي که در نهاد هاي اساسي قدرت و نیرو هاي مسلح از حمایت چنداني بر خوردار نیست در برابر وضعیت مشابه اکنون متزلزل و شکننده به نظر میرسد همین اکنون ناطق نوري رقیب عمده یې وي یکجا با تمامي فعالیت جناح افراطي در پي انند تا چگونه از نا بساماني ها و جنجال ها حاکم بر جامعه ایران سؤد برنده تا آرامي ها عنعنوي مذهبي، نژادي حتي ایالتي حالا دارد کم کم به شکل یك پروسه «عدم اطاعت اتباع» در میاید .

یکي از عوامل اساسي که سبب این همه نابساماني ها و تنازعات در ایران گردیده است همانا نفوذ وسیع و لجام گسیخته عده اي از افراد شدیداً متعصب مذهبي ... بر عمده ترین کانون هاي قدرت میباشد که این در ذات خود منتج به کشمکش هاي دامنه دار فرقه اي نژادي ... شده است و در نهایت باعث استحاله اقتدار و حاکمیت سالم اسلامي و ملي در آن کشور میباشد و بدن شبه در تحت چنین شرایطي، خزیدن افراد و گروه هاي متعصب مذهبي نژادي داراي زشت ترین عقده ها به عرصه سیاست و در نتیجه شکل گیري بستر نا آرام و فضایي نا مساعد براي آمیزش سالم پیروان مذاهب اهل تسنن و تشیع به یك امري محتوم مبدل گردیده است . از این رو بررسي پدیده شوم فرقه گرایي هاي مذهبي که با پشتوانه عظیم مالي از جانب این اهرم مهم قدرت در تهران در همین زمینه صورت میگیرد .

چنان که این قطب محوري قدرت با انجام سلسله فعالیت هاي دامنه دار و سازمان یافته در قالب لوایح طرحریزي شده مذهبي و تبلیغات سؤ فزاینده علیه اهل تسنن و تحریك احساسات فرقه گرایانه زمینه تزلزل پایه هاي کیان جامعه واحد اسلامي و تمامیت ارضي کشور هاي مختلف، مانند افغانستان، پاکستان، بحرین ، عراق، لبنان ... را میخواهد مهیا نمایند .

معهذا روند رویه رشد این گونه تحریکات شیطاني را در وجود عمال فرو مایه و خائن آن (گروهك رسواي وحدت : ایراني) در افغانستان بوضوح میتوانیم مشاهد نمایم بگونه اي که همین پیوند هاي عمیق و دیرینه با این قماش دسته هاي فاسد در کشور هاي متعدد اسلام مانع اتخاذ تدابیر لازم و بکار گیري شیوه هاي عملي در جهت زدایش بحران فرقه گرایي هاي مذهبي و قومي شده است .

نه اساسي دیگر، در حال حاظر تلاش هر دو قطب محوري قدرت براي افزودن مشکلي بر مشکلات همدیگر در حقیقت به توانایي هاي نظام ناقص شان لطمه هاي قابل ملاحظه اي را وارد نموده اند . و بدیهي است در این زمینه، اوضاع پیچیده و نا بسامان اقتصادي اهرم فشار مؤثر و سوژه مناسبي خواهد بود که از رهگذر آن، جناح مخالف در پارلمان به رهبري ناطق نوري انتقادات و اعتراضات وسیع و عمومي را معطوف ایت الله خاتمي بسازد .

از آنجاییکه مسایل و مشکلات عظیم اقتصادي ایران بعد از جنگ نا کام هشت ساله ان با عراق، همچون ناکامي سیاست هاي اقتصادي، عدم سرمایه گزاریهاي بزرگ، قطع روابط دیپلوماتیك با دول خارجي مانند فراخواندن کلیه سفراي اتحادیه اروپا از تهران ... و نهایتاً فقدان قابلیت هاي لازم هیئت حاکمه در فایق آمدن بر معضلات عدیده سبب نارسایي‌هاي از قبیل : افزایش بي سابقه کسر بودجه، اسیب پذیري صادرات (پسته و محصولات صنایع دستي) افزایش بي سابقه تورم پولي و صعود هزینه هاي دولت شده است بنوعي که هر کدام از این مشکلات براي تهییج افکار ملتهب جامعه بحران زده ایران و کانالیزه کردن ناراضي ها و مخالفت ها از جانب یکي بر علیه دیگر سوء بهره برداري قرار میگیرد .

مگر در این میان، تنها نحوه عملکرد ها منطقوي ایران مبین انعکاس دیدگاه هاي جناحهاي سیاسي این کشور نیست . در حالیکه تصمیم گیري نهایي و سیاست گذاري هاي عملي در زمینه برخورد با مسئله افغانستان را اغلب مقامات نظامي که در تحت نفوذ مستقیم جناح چپ افراطي قرار دارند شکل میدهند . لذا مسئله اصلي در این فرا گرد، از دیدگاه آنان تقویت بیش از حد نظامي ... گماشته گان و مهره هایشان و ارجحیت اصل هاي تداوم روند بي ثباتي بر تأمین صلح و تجزیه افغانستان به توته هاي مجزا از هم بر استقرار یك حاکمیت یکپارچه و نیرومند میباشد، و متاسفانه جناح میانه رو ها تحت زعامت خاتمي مخالف یك چنین رویه اي در قبال افغانستان نیست و تا کنون نیز خواستار اتخاذ راه حل سالم و مثبت در این راستا نمیباشد .

چنین گمان اکنون به یك حقیقت انکار ناپذیر مبدل شده است که هر دو جناح براي بقاي خویشتن و تطبیق اهداف توسعه طلبانه شان نا گذیر از بکار بستن شکل و شیوه هاي نخستین سیاست بازان مبني بر تلاش براي انتقال بحران درون جامعه شان بخارج بوده و در این مسیر با کشیدن پوشش کاذب منافع ملي، مصلحت هاي توهمي به اصطلاح حوزه اي وسیع تمدني ایران !! و سایر مصالح عمومي در صدد سرپوش گذاشتن بر بحران و تشنج دایم التزاید داخل این کشور متوجه است، زیرا تجارب نشان میدهد که ایران براي خفیف تضاد ها و تقابل هاي دروني و جهت منحرف ساختن افکار عامه از بحران داخلي دست به ماجراجویي هاي وحشت انگیز مذهبي و نژادي در قبال اقلیت هاي مذهبي و نژادي ساکن در ایران و افغانستان ... زده است .

این نوع برخورد در اوضاع و احوالي شدت کسب میکند که فضاي سیاسي منطقه بسوي ترك خصومت ها و تفاهم و همکاري منطقوي و برقراري روابط نیکو ضرورت جدي دارد . و مبرهن آنست که این همه نابساماني ها و رسوایي ها که همین اکنون رهبران ایران به آن مقابل اند پیامد سیاست هاي ناسنجیده و مضراتها در جریان دو دهه اخیر در رابطه با مسایل جهان و مخصوصاً کشور هاي همسایه میباشد و طوریکه مقامات امارت اسلامي افغانستان تلویحاً و بطور جدي تاکید داشته است که پیگیري سیاست مشترك زمامداران ایران با دولت روسیه در قبال افغانستان و بقیه دول منطقه که با سماجت تمام بدون تن دادن به حقایق جامعه ما دنبال میشود با در نظر داشت عوامل فوق الذکر منتهي به شدید ترین انفجارات سیاسي، اقتصادي، ملي ومذهبي در ایران خواهد شد .

ماحصل کلام اینکه ملت مجاهد افغان انتظار دارد که دولتمردان ایران در پالیسي هاي شان تجدید نظر نموده و نادیر نشده به تصحیح سیاست هاي خود در زمینه افغانستان اقدام ورزند . و در غیر آن جنگ و مصیبت افغانها بهر حال به مشیت الله تبارك و تعالي به پایان رسیدني است و بالاخره آفتاب گرم صلح عنقریب در افق کوهپایه هاي افغانستان خواهد تابید و آنگاه ما به حیث یك کشور همسایه راضي نخواهیم بود که تأمین صلح و ثبات در کشور ما انفجارات عظیم را در ایران بدنبال داشته باشد .

د افغانستان د اسلامي امارت ټولي هلي ځلي د سولي له پاره دي

غالب

په داسي حال کي چي د افغانستان د اسلامي امارت ټولي هلي ځلي په هیواد کي د سولي او امنیت له پاره رواني دي، بیا هم د افغانستان د اسلامي امارت مخالفین د خپلو بهرنیو باداراتو په ملاتړ او غوښتنه ظاهراً په خوله د سولي خبري کوي خو په عمل کي د خپلو شیطاني پلانونو په درلودلو سره په ټول توان هڅه کوي چي د سولي هر راز پروسه شنډه او د وسلو په ژبه خبري وکړي او خپل ځان په اصطلاح د یو پوځي ځواک په توګه وښیي تر څو د ملګرو ملتونو او نړیوالو په سترګو کي د افغانستان د مسالي په حل کي ځان د یو حاکمن ارخ په توګه راښکاره کړي.

په دي کي هیڅ شك نه شته چي د شمال تیره یوه نیمي میاشتنیئ جګړي او وروستنیو انکشافاتو حتي پوستني خلکو او نړیوالو ته را پیدا کړي دي دا حکه چي د اسلامي امارت مخالفین په شمال کي د خپل بري تغاري وهي او دوستم خپل ځان بهرنیو ژورنالیستانو ته په خپلو مرکوکي د یو پهلوان قوماندان په توګه وربیږني او دا هم وایي چي په شمال کي د طالبانو راتللو ته اړتیا نه شته مور په خپله کولاي شو چي په شمال کي حکومت وکړو او ... که چیرته په شمال کي د شمال مؤمن خلك د پهلوان دوستم په قوماندانۍ او مشري خوښ وای نو د پهلوان دوستم په ضد ولي راپورته کیدل چي بالاخره پهلوان دوستم تیښتي ته اړ شو او هغه وخت چي پهلوان مالك خپله مور ترکیي ته ولیږله او له دوستم نه یي وغوښتل چي مزار ته راشي نو ولي را نغي د دوستم اوسني راتګ د هغه د شخصي او ذاتي تصمیم او خوښي نه سرچینه نه نیسي بلکه په دي کي هیڅ شك نه شته چي د دوستم اوسني راتګ مزار ته د ایراني وسلو له اتباعونو سره د کومي پټي بهرني دسیسي تر پردي لاندي تر سره شویدي په خپله دوستم هم پدي باندي سه پوهیږي او د خپلو غیر انساني او غیر اسلامي کړو وړو له امله خپله د دار رسي په خپلو سترګو وپني، خو اوس په داسي لومه کي راګیر شویدي چي اوس په خپله ځان ترینه نه شي خلاصولاي . دوهمه خبره دا ده چي دوستم وایي، چي مور په شمال کي خپله حکومت کولاي شو او د طالبانو راتللو ته اړتیا نه شته . دا خبره سمه ده چي پهلوان دوستم او د هغه الډیوالان رښتیا هم چي په شمال کي سه د چور، تالان او بد امني حکومت کولاي شي او په دي کار کي یي ساري نه لیدل کیږي، د یو نظام او اداري په راوستلوکي چي په هغي کي د خلکو سر، مال ، شخصي او ملي ښمني خوندي شي دوي لا ښخوا امتحان ورکړیدي .د بیلګي په دول په مزار کي د خارجي موسسو دولتي ارګانونو او محلي خلکو د ښمنیو وروستي تاریخي چور او الان ته ګونه نیولي شو. دا څو لا پریږده چي دوي په حکومت او اداره جوړه کړي بلکه د خپلي واکمني په موده کي یي د افغانستان جوړ حکومت او منظمه سیاسي، اداري او اقتصادیي بنسټونه له منځه ویوړل . زمونږ د هیواد دیني او ملي حاکمیت یي له ګواښ او هیواد یي د ویش له محسوس خطر سره مخ کړ او د جهاد په برکت د بهرنیو لند شوي لاسونه یي بیا بیرته زمونږ د هیواد شلیدلي ګریوان ته اورده کړل په فارسي کي وایي چي « سال خوب از بهارش پیداست » د دوي د تیري شوي توري او کرغیړني زمامداري دوره په دي شاهده او ګواه ده چي ان شا ء الله دوي به هیڅ وخت په دي ونه توانیږي چي یوه داسي اداره او په اصطلاح حکومت منځته راولي چي واقعاً د یو حکومت له شروطو او مواصفاتونه برخمن وي، دا اوس اوس وینو سره ددي چي دوي په شمال کي داسلامي امارت د اسلامي اردو له حیرونکو ګوذارونو لاندي دي دوي په دي ونه توانیدل چي خپل منځني اختلافات رفع او د خپلو روسي او ایراني بادارانو له ورکړل شوي نقشي سره سم په شمال کي یوه واحده اداره جوړه کړي بلکه تر خپل کنترول لاندي سیمو په ویشلو سره یي یو حل بیا دا په داګه کړله چي دوي هیڅکله نشي کولي چي یو له بل سره د قدرت په یو تغر کښیني او د یو واحد زعامت لاندي متحدانه کار وکړي .

طالبان داخپله دیني او ملي وظیفه بولي چي په هیواد کي د الحاد، شر او فساد کمپله ټوله او شرعي قانون نافذ کړي او دا کار عملاً د شمال خلکو په سترګو ولیده چي په هر وار کومي سیمي د اسلامي اردو او کرامو طالبانو له خوا فتحه شویدي هلته سوله او امن ټینګ شوي او د غلو او قاتلانو مخه نیول شوي ده او که چیرته د پهلوان دوستم سوله او امن خوښ وي نو بیا ولي د اسلامي اردو، د طالبانو او مجاهدینو سره مرسته نه کوي او واقعیت ته نه تسلیمیږي. په هر صورت د افغانستان د اسلامي اردو مجاهدین چي د خپلي ستراتیژي له مخي تن په کندز کي راټول شوي دي د اماناله لري چي ګني د اسلامي اردو ځواکونه د شمال د پوره فتحي وسه نه لري بلکي په داد سره ویلاي شو چي د

طلوع مخ

د ادب مرغلري

د سلیمان نالایق «سور مؤمن» د شعر په ځواب کي چي د ملحد تحبب د اعدام له مله یي لیکلي او په لیکوال مجله کي چاپ شویدي

څه وایي

ګل آغا احمدي وردك

ګوره د تاریخ زندیق به پاك سبحان ته څه وایي
دا د ټول ملت جلاد به خپل وجدان ته څه وایي
دي په غلامي کښي د شیطان حرم ته ننوت
دغه لوټي قاتل به د دوزخ دربان ته څه وایي
هلته چي ولاړي قافلي د مظلومانو وي
ګوره مختورن به د حشر میدان ته څه وایي
څوك چي شاه شجاع شي افغانانو به دار کړي تل
داسي بي ضمیر انسان به خپل ګریوان ته څه وایي
توري شپي څو راغلي په وطن کښي د شمال له خوا
دغه لعنتي مزدوران سره کاروان ته څه وایي
څه چي فاجعي دي د هرېانو زیږولي دي
دوي به پولیګون او د خرخي ونډان ته څه وایي
هر غدار به خوړند د پانسي په شنه کړي کښي وي
بیا به خوړند شوي د کړي اسمان ته څه وایي
سور روسي یي راووست د کابل په زړه یي کښیناوه
اوس به «نا لائقه» دغه تیر داستان ته څه وایي
دلته د «حورا» شعار د تل لپاره ختم شو
داسي مړه جریان ته قراري ملحدان څه وایي

سپین سحر

ملا اسد الله «حنیفي»

زمور د کلي په کوڅو کي سپین سحر ځلیږي
که د مزار د شهید زخم په تتر ځلیږي
بیا مو زلمو ملاوي تړلي د شمال په لوري
له امو پوري یي شفقي لکه د لمر ځلیږي
نن یا سیا به هندوکش په سر بیرغ دروي
سپیني لښکري مو په څوکو د سپین غر ځلیږي
د زني خال ترینه لوګي کړو چي نظر یي مات شي
بریښنا د تورو مو په زړه کي د شیبر ځلیږي
زړه پکړي مو د ابدال نیکه په سر تړلي
د شملورو زلمو لاسوکي خنجر ځلیږي
«حنیفي» اوس به د الحاد جرړي له بیخه وزي
د ننګیالي اولس د وینو سمندر ځلیږي

کابل ۱۳۷٦/۷/۲۸

وطن

رحیمیار از شهر اسن المان

وطن آزادیت دائم شعارم
شکوهت هم عزت و افتخارم
ازین فاجعه الهي رهایي بابي
همین باشد امید و انتظارم
وطن ز دوریت رنجور و زارم
به یك لحظه دیدارت کار دارم
خوشم آید هوا و روح آزاد
که من پروردهٔ آن کوهسارم
نبودم محتاج ملك اغیار
دست قضا فګند به هر کنارم
ز درګاه ایزد امیدوارم
خوشا لحظهٔ کنارت جان سپارم

بصیرت

ګوهري

بینا شومه د زړه په سترګو ځان مي ولیده
چي ځان مي ولیده نو ټول جهان مي ولیده
د جهل تورسونه مي له مخي نه فنا شول
نصیب مي بصیرت شولو جانان مي ولیده
دنیا او آخرت مي دواړه ولیدل بینا شوم
بهتر شوم له هر چاته چي قرآن مي ولیده
پخوا له دي لیدلو نه په ټیو باندي روندوم
چي نه مي ولیدي زمکه و آسمان مي ولیده
د عقل مدارج مي تر آسمانه پورته کیري
له ستورو نه وریورته کهکشان مي ولیده
جمال د سکلي یار که ګوهري په سترګو ولیده
بیا ومنه چي ټول کون او مکان مي ولیده

د مسیحیت مؤذن

عبدالحي «مطمئن کندهاري»

غوړي سري ځني راهب د کلیسا په کناره کي
شني شني سترګي رغړوي او شراب څوري په شنه پیاله کي
دا مؤذن د مسیحیت دي چه پر بنډ پر ممبر ناست دي
بي اودسه اقامت کړي د درواغو په کعبه کي
د انجیل له قداست څخه ناوړه ګټه اخلي
ناروایي روا کړیدي په خپله پیمانه کي
مشرکین ساقیان ولاړدي د کوثر په نامه ویشي
د ترخو اوبو جامونه د ټګي په ځمخانه کي
د فاحش معبد له مینځه دوزخي قهقهه اورم
د پردي تر ټ کما کړي څو مستان په میخانه کي
دا عیسی یي چه په خیال کي په صلیب دي ځوړند کړي
دا لوی شوي له ازله د تکفیر په سلسله کي
دا په زړه کي د لویدیځ دي د بشریاني چیغي
که شیطان بیرداړ شوي د مکي په دروازه کي
دا حقوق له چانه چانه یي دوي غواړي نه پوهیږم
که فریبونه د ابلیس دي د فساد په مرحله کي
عزازیل مي په محراب کي دي لیدلي ډیر حیران یم
مقتدیان د پیغمبر پسي پرانه وو په سجده کي
پري ځري مي کړي سلام کړي لمونځ قاسد امام کافر دي
تیر اینسلي ټول ځاس ناست د لعسون په بوډ خرقه کي
داچیله راهیګاه ده کعبه نده خطا نشي
د ژوندن ورونسي توبه ده چي ولاړ نشي په ځپله کي

کورنی فقه

اسراف او کبر دواړه د اسلام له نظره محکوم دي

(۹)

قاضي محمد حسن "حقیار"

د اسلام د مقدس دین چال چلند د ژوند د ټولو اړخونو په هکله یو دی او هغه دا چي اسلام په هره معامله کي افراط او تفریط دواړه محکوموي او اعتدال (منځومانه) لار خوښوي همدا راز د لباس ، پوښاك او ښکلا په هکله هم د اسلام دریځ همدا اصولي دریځ دي اسلام وایي چي ښي جامي واغوندئ ، پاکي جامي واغوندئ ، ښکلي ګرځئ خو له اسراف څخه به ځان ساتئ . الله«ج» په خپل پاك کلام کي څو ځایه د اسراف او فضول خرڅي نظریه او عملیه غندلي ده او ددي نظریي او عملیي پیروان یي د شیطان ورونه بللي دي الله «ج» فرمایي « و لا تبذر تبذیراً ان المبذرین ...» بني اسرائیل ۲٦-۲۷ یعني :« او اسراف مه کوه په اسراف کولو بیشکه چي اسراف کوونکي د شیطانانو وروڼه دي ...»

لا تحرموا طیبات ما احل الله لکم و لا تعتدوا ان الله لا یحب المعتدین» یعني: « اي هغه کسانو چي ایمان یي راوړي دي مه حراموي تاسي پاك لذیذ له هغو شیانو نه چي حلال کړیدي الله لپاره ستاسو او تیري مه کوئ (ځکه چي) الله «ج» تیري کوونکي نه خوښوي » المائده ۸۷

« خذوا زینتکم عند کل مسجد کلوا و شربوا ولا تسرفوا ...» یعني: « اي ځامنو د ادم واخلي تاسي زینت (ښایست) خپل په نزد (وخت)د هر لمانځه خورئ ، څښئ او اسراف مه کوئ ...» الاعراف ۱۳۱

همدا راز د خداي محبوب رسول «ص» خپل امت ته په عملي او نظري ډول دا درس ورکاوه چي د خداي«ج» پیرزو شوي نعمتونه بي ځایه استعمال نه کړي او له اسراف نه ځان وساتي . په روایاتو کي راغلي چي « نهي النبي«ص» عن اضاعة المال » یعني : « د خداي رسول«ص» د مال له ضایع کولو نه منع کړیده » بخاري

همدا راز د انسان په شخصي او وګړنیزو چارو کي د ښو جامو، سوتره ګرځیدلو او ښکلا کي چي ځه دول اسراف روا ندي همدا رنګه دا شرط هم ایښودل چي د ښه خوراك، څښاك او پوښاك په وخت کي انسان باید د تکبر او لویي په تیلي هم سپور نه شي او د ښکلي ځان او پوره غوښتنو په لیدلو یي د خیال وزري د تکبر اسمان ته د الوتلو تکل ونه کړي

رسول الله «ص» فرمایي « کلوا و شربوا والبسوا و تصدقوا في غیر اسراف و لا مخیلة » یعني :« خورئ، څښئ، واغوندئ او خیرات ورکړئ (مګر) اسراف او تکبر به نه وي » بخاري

الله«ج» کبرجن بنده، بي ځایه لویي کوونکي بنده هغه چي د خپل خلقت حقیقت نه پیژني نه خوښوي . «والله لا یحب کل مختالاً فخور» الحدید ۲۳ یعني :« او الله نه خوښوي کبر کوونکي او فخر کوونکي (په نورو باندي)»او اوس دا پخپله انسان پوري اړه لري چي د خداي«ج» د ورکړل شویو نعمتونو څخه څه ډول ګټه واخلي آیا د نعمتونو د شکراني په ادا کولو سره یي د نور ډیربښت هیله وکړي او که په اسراف ، تکبر، او لویي سره یي کفران (ناشکري) وکړي او د الهي عذاب منتظر و اوسي .

«...» شکرتم لازیدنکم و لئن کفرتم ان عذابي لشدید» ابراهیم ۷ یعني :« که چیري موشکر وکړ (په نعمتونو زما)نو حامخا به یي درته نور هم زیات کړم او که مو نا شکري وکړه نو بیشکه زما عذاب خامخا ډیر سخت دي . الله «ج» د کبر کوچني نمونه (بیلګه) له قدمو ښکته د پینځو زوړ ندول «چي یي ضرورته وي» هم نه خوښوي او ددي کار له تر سره کوونکو سره به هم حساب کیږي . رسول الله «ص» فرمایي « من جرثو به خیلا لم ینظر الله ...» یعني :« چا چي د کبر له کبله خپلي جامي هم ځوړندي (خوشي) کړلي (نو) خداي به ورته د قیامت په ورځ (د رحمت په سترګه) و نه ګوري » متفق علیه

د ابن عمر «رض» څخه روایت دي چي رسول الله «ص» فرمایلي دي « لا ینظر الله الي من جرثو به خیلا» یعني : « نه ګوري الله«ج» (د رحمت په سترګه) هغه چاته چي جامي یي د کبر له کبله ځوړندي کړي وي »

لکه چي پورته مو ورته (اشاره) وکړه . دا وعید د هغه چا لپاره دي چي دا ډول کار او د جامو او کالیو دا ډول استعمال قصداً د کبر له مخي کوي او چا سره چي دا فکر نه وي او د ضرورت له مخي (لکه د پخني یا د نظافت او پاکي له کبله یا د بي اهتمامي له کبله) که د چا پینځي ښکته شي او د تکبر او غرور فکر او خیال ورسره نه وي نو هیڅ وبال پري نشته ځکه په احادیثو کي چي هر چیرته دا عمل غندل شویدي نو هلته ورسره دا قید ایښودل شویدي چي « د تکبر له مخي وي » لکه په دي مبارك حدیث کي چي ابو هریرة «رض» روایت کړیدي « لا ینظر الله یوم القیامه الي من جر ازاره بطراً » یعني : « نه ګوري الله «ج» (د رحمت په سترګه) هغه چاته چي ځوړند کړي یي وي پرتوګ خپل د کبر لپاره» بخاري

« من لبس ثوب شهرة البسه الله ثوب مذلة یوم القیامة» یعني : « څوك چي د کبر او شهرت جامي واغوندي نو خداي به ورته د قیامت په ورځ د خوارئ او ذلت جامي واغوندوي» مسند احمد، ابو داؤد ، ابن ماجه او نسایي په صدر د اسلام کي هم ډیر صحابه لیدل شویدي چي جامي به یي ځوړنده او کشاله وي خو ځرنګه چي د لویي او کبر فکر ورسره نه وو نو رسول الله «ص» پري هیڅکله ددي کار په سر پرته کړل لکه په حدیثو کي د دي ډیري نموني موجودي دي د حضرت سالم بن عبدالله نه روایت دي او دي له خپل پلار نه روایت کوي چي رسول «ص» وفرمایل : « من جرثو به خیلا لم ینظر الله ....» یعني : « څوك چي ځوړند کړي پرتوګ خپل د کبر له مخي نه نو خداي «ج» به ورته (د رحمت په سترګه) و نه ګوري ابوبکر صدیق «رض» وفرمایل چي اي د خداي رسوله «ص» زما د پرتوګ یو طرف کشال دي مګر دا چي زه یي ونیسم . رسول الله «ص» ورته وفرمایل چي ته په هغو کسانو کي نه یي چي د کبر له مخي دا کار کوي » بخاري، حتی ځني وخت به پخپله د رسول الله «ص» جامي کشال او ځوړنده وي. له حضرت ابي بکرة «رض» نه روایت دي چي : « خسفت الشمس و نحن عند النبي «ص» فقام یجرثو به ...» یعني : « لمر ونیول شو پداسي حال کي چي مونږ د رسول تر څنګ وو نو رسول الله«ص» پاځیده او له ډیري چالاکي یي جامي ځوړندي وي (ځځیدلي) تر دي چي مسجد ته راغي او خلك یي راټول کړل بیایي دوه رکعته لمونځ وکړ بیا لمر رڼا شو ...» بخاري

ددي لپاره چي افراط او تفریط حدود مو پیژندلي وي . په دي مسئله ښه پوه شو او د ابهام له تیاروته ووزو نو دلته په همدي مورد کي د حضرت عمر «رض» فیصله رانقلوو :یو تن له حضرت عمر «رض» نه وپوښتل چي څه ډول جامي واغوندم ؟ حضرت عمر «رض» ځواب ورکړ چي « ما لا یزدریك فیه السفهاء، و لا یعیبك فیه الحلماء» یعني : « داسي جامي واغونده چي نا پوهان درته په کي په سپکه و نه ګوري (بدرنګه او ناکاره نه وي) او پوه خلك درته په کي بد ونه وایي (چي پوه خلك په کي عیب و نه مومي او د اعتدال له حد نه اوښتي نه وي) طبراني او مجمع الزوائد .

نو د پورتنیو څرګندونو په رڼا کي ویلي شو چي ښي جامي اغوستل ، ښه خوراك، پاك، نظیف، او ښکلي ګرځیدل په اسلام کي کوم جرم نه بلکه د تحسین او شاباس وړ عمل دي خو په دي شرط چي له تکبر ، اسراف او «غلو» نه په کي مخنیوي شوي وي (په منځګومانه حالت کي وي) او نور شرعي موانع و نه لري لکه د ناجائزو وسایلو استعمال، د ښکلا او زینت لپاره په خلق الله (د خداي د پیدایښت په بڼه او طرز کي) تغیر راوستل حتي د الله«ج» لخوا نه دایښودل شویو حدود و په چوکات کي ښکلا او ارایش (دیکوریشن) کسول ثواب او د الله «ج» په امر عمل دي . خو نن سبا چي د میك اپ او ارایش سیالي کومه بڼه خپله کړي ده او د میك اپ په دکانونو او سراېوتو کي چي په کوم بي شرمانه انداز دا سیالي تر سره کیږي نو د تأمل وړ خبر او د الله «ج» له ایښودل شویو حدودو ښکاره تیري دي. چي په راتلونکو بحثونو کي به یي لږ په تفصیل سره وځیږو.

د یادولو وړ ده چي اسراف د یوي ټولني له شرایطو تر بلي ټولني توپیر لري زمونږه ټولنه چي له نهایت فقر او نیستي سره مخ ده په دي ټولنه کي په لوکس موټرو کي ګرځیدل له ډیرو لوکسو او اتیکو وسایلو نه استفاده هم په اسراف کي راځي او په ځانګړي دول که دا مصارف د بیت المال نه وي نو ګناه او وبال یي څو چنده زیات وي ځکه چي په بیت المال کي هغه فقیر او نیستمن کوچنیان هم او در په دره ښځي هم حق لري چي د سوال لاس یي هر چاته غزولي وي .

اهالي مجاهد شمال کشور فرمانروایي دوستم را نمي پذیرند

محمد نذیر احمدزي

ملیشه هاي درنده خو و چپاولګر ګلم جم که در اوان اداره کمونیستي نجیب بنا بر وحشت و کشتار ، چور و چپاول دارایي هاي مردم مسلمان ما معروف و مشهور ګردیده و چشم امید زمامداران مزدور کمونیست بودند بعد از سقوط حکومت نجیب در نتیجه خود خواهي ها قدرت طلبي و خیانت بعضي از سران تنظیم ها کامل و منسجم باقي مانده و جز اردوي دولت به اصطلاح اسلامي رباني قرار ګرفته و متاسفانه از پیش ګرده بیش به قتل و کشتار، تجاوز و تهدید ، سرقت و غارت دارایي هاي ملت مسلمان ما ادامه دادند . ګاهي با کنار آمدن با یك ګروه قسمت هاي جنوب و غربي شهر کابل را به ویرانه مبدل کردند و زماني در پهلوي ګروه دیګري مرکز شهر کابل را مخروبه ساختند وحشت ها و مظالم شان تا حدي رسیده بود که اهالي مظلوم آن مناطق حتي از فاصله چشم دید پوسته هاي این جانوران عبور کرده نمیتوانسته هرګاه نا اګاه کسي در چنګال شان مي افتاد روز ها و هفته ها مفقود الاثر ګردیده و اقاریش مجبور بودند در بدل پرداخت صد ها هزار افغاني او را دو باره آزاد سازند . اطفال و زنان بیچاره که در چنګال این وحشیان افتاده اند باز اثري از آنها دیده نشده است . سر دسته این حیوان صفتان (دوستم) که یکي از نوکران سر سپرده کمونیزم جهاني است روز بروز در ګرفتن انتقام شکست ارتش سرخ وحشي شوروي سابق در افغانستان حریص تر ګردیده با ادامه وحشت هاي خود اخلاص و وفاداري اش را به باداران روسي خود ثابت مي سازد .

دوستم که با حمایت نظامي ، مالي و سیاسي باداران خارجي خود(روسیه و ایران) توانسته بود چند روزي به قدرت ننګین خود بیافزاید بعد از آنکه ګلیم قدرتش در قسمت اعظم از خاك کشور توسط مجاهدین دلیر تحریك اسلامي طالبان جمع شده و خودش مجبور به فرار از کشور ګردیده بود اینك شرم نکرده و متحیث بازیچه پلان هاي شوم روس و ایران از طریق همان کشور با حمایت آنها و بنا بر فرامین شان دو باره به سمت شمال کشور بر ګشته این بار که موصوف با ملیون ها دالر نقد و تجهیزات و ملیشه هاي اجنبي مخفي و آشکار بار دیګر در سمت شمال کشورظاهر ګردیده باز میخواهد تا حاکم و فرمانرواي آن مناطق باشد، مردم مسلمان آن ولایات را به فرمان خود ببندد ،بشهادت برساند، بر ناموس و عزت شان تجاوز کند، اولاد شان را به اسارت ګرفته و ملیشه سازد ، دارایي هاي مردم را توسط عمال بي ایمان خود به یغما برد و به اینګونه دل دشمنان عقیده، استقلال ، وحدت ملي و تمامیت ارضي کشور ما را بالاي ملت مجاهد ما سرد سازد، حمایت اجانب و سفاهت نوکران اجانب در مناطق تحت کنترول ملیشه ها در شمال کشور زمینه را براي این امر مساعد ساخته و دیده میشود که دوستم بار دیګر متحیث حاکم اعلي ملیشه ها مقرر میګردد، رسانه هاي خبري منطقه و جهان اخیراً ګزارش دادند که سر دسته ګان ملیشه ها و باغیان شرارت پیشه طي جلسه که در پلخمري داشتند بنا بر هدایات مستقیم حکام روسي و ایراني دوستم را به صفت معاون به اصطلاح رئیس جمهور !!؟ و قوماندان اعلي ملیشه هاي جبهه نجات ملحدین و مفسدین انتخاب نموده اند. بدین معني که تمام نیرو هاي نظامي ملیشه ها صرف نظر از اینکه این قوت ها کي ها اند و به چه تنظیمي ارتباط دارند تحت قومانده مستقیم دوستم عمل خواهند کرد در جلسه مذکور که مجاهد نما هاي جهاد دشمن از قبیل رباني و مسعود نیز شامل بودند بنا بر فشار هاي خارجي باداران شان آنها هیچنوع مخالفت نتوانستند البته نخواستند و سرشت شان اکنون چنین است که باید مخالفت نمیکردند مسعود رباني با این موافقه، توهین و تحقیر دیګري بر ملت مجاهد ما خصوصاً به اهالي شهید پرور صفحات شمال کشور روا داشتند و با این عمل خود بر سندي امضا کردند که دوستم این کمونیست سفاك و شناخته شده حکمرواي اعلي یك جامعه متدین و خدا پرست باشد و به زعم آنها با تحت اثر قرار ګرفتن همه قوت هاي نظامي شمال تحت قومانده دوستم اهالي مظلوم آن مناطق دیګر توانایي آنرا نخواهند داشت که بر ضد کمونیزم و با ملیشه هاي باقیمانده کمونیستي که عاملین این همه تباهي و بربادي کشور ما هستند لب بر سخن بکشایند مسعود و رباني فکر مي کنند که با پذیرفتن این ذلت آنها خواهند توانست حمایت بقایاي کمونیزم و حامیان خارجي شان را حاصل نموده و چند یومي به ریاست هاي خیالي شان بر قرار خواهند ماند اما این چنین هرګز نخواهد شد تاریخ ګواه است که تمام ساکنین افغانستان اسلامي اعم از پشتون تاجك ازبك ، ترکمن ، هزاره و ... خود را اجزاء لاینفك این خطه مقدس شمرده بخاطر حفظ مقدسات عقیدوي ازادي ، تمامیت ارضي و وحدت ملي شان همه با هم شانه به شانه برادر ګونه در یك صف واحد بر ضد دشمنان شان به قیام و جهاد کمر بسته و تا حصول مقصود بدون احساس هیچنوع خستګي و یا ترس و وهم به فداکاریکهاي شان ادامه داده اند. در دوران جهاد ضد روس نیز ملت ما و جهانیان شاهد اند که مسلمانان متدین و شجاع ولایات شمال کشور از دیګر هموطنان مجاهد شان در مجاهدت و قرباني به خاطر حصول رضاي خداوند متعال و ازادي مجدد کشور از چنګال لشکریان سرخ قطب شمال به عقب نه مانده اند ضربات کوبنده اي که متجاوزین شوروي در کوهپایه ها دره ها، دشت ها ، قرات و شهر هاي شمال کشور ، نصیب ګردیده اند هرګز از خاطره هاي پیروان کمونیزم بیرون نخواهد شد، دلیري و فداکاریهاي مجاهدین سر بکف جبهات جهادي کشم بدخشان اشکش نخار، تنګي تاشقرغان، کوه البرز بلخ ، دره صوف ، نهرین، شهر کهنه بغلان، کیله ګي، خنجان، سالنګ، پنجشیر ، کوهستان، اندراب، نجراب، بګرام ، قره باغ و غیره مناطق شمال در طول سال هاي جهاد زبان زد خاص و عام بود . همه مجاهدین ولایات شمال کشور مشکلات را که در طول جهاد متحمل شدند براي ابد فراموش نخواهد شد. سفر هاي پیاده با چاشته و مهمات سنګین که یك الي یکنیم ماه طول مي کشید بخاطر حمل سلاح و مهمات از سرحدات جنوبي کشور به دور ترین نقاط و لایات شمال نمونه از جانفشاني هاي بي مثال این توده مومن است و فرد فرد از مجاهدین ولایات مذکور این مشقات را متحمل شده اند صرف به خاطر نجات کشور از شر کمونیزم و استحکام نظام عدل الهي در افغانستان اسلامي ، آزاد واحد و سر بلند.

امروز دشمنان جهاد و افغانستان عزیز میخواهند این ملت مومن و آزاده را در صفوف ملیشه هاي کمونیست و بیګانه پرست در اورده و غلامان اجانب سازد از همه بیشرمانه تر اینکه کسي را بالاي شان حاکم سازد که عامل بشهادت رسیدن صد ها هزار تن از بهترین و مظلومترین فرزندان آن مناطق بوده همه هستي هاي مادي و معنوي شانرا به باد فنا داده است که هرګز این چنین خیال ها بر اورده نشده و چنین پلان ها عملي نخواهد شد زیرا اقوام و قبایل مجاهد و متدین و لایات شمال افغانستان آن مردم با غیرت و خدا پرستي هستند که در طول تاریخ در بر افراشتن و حمل لواي مقدس جهاد با هموطنان برادران ولایات دیګر کشور شریك بوده راز مقدسات دیني و مفاخر افغاني شان دفاع نموده اند امروز که دشمنان اسلام و ملت مجاهد افغان باز کمر بسته تا هویت اسلامي ، جهادي و افغاني مسلمانان شمال کشور را مسخ نموده و با قرار دادن شان تحت حاکمیت ملیشه هاي جاني و اجانب پرست، به تشخص آنها، عقیده و ایمان ایشان ، به جهاد شهادت و قرباني هاي آنها به مفاخر و دستاورد هاي آنها و بالاخره به نام و نشان آنها توهین روا داشته و میخواهند این اقوام و عشایر خدا پرست را به غلامان دشمنان اسلام و افغانستان مبدل سازد حتمي است که این پلان ها و حیله ها براي اهالي مجاهد و دلیر شمال کشور قابل قبول نبوده و هرګز نخواهد بود خیلي زود است که یکبار دیګر مسلمانان آزاد آن مناطق لواي جهاد و قیام را علیه بقایاي کمونیزم و مفسدان بیګانه پرست بر افراشته و براي ابد خود و هموطنان خویش را از شر این شرارت پیشه ګان نجات بخشند انشا ء الله آن روز خیلي نزدیك است، روزیکه نصرت الهي نصیب حال ما شده و فتح نهایي نصیب ملت مجاهد ما ګردد .

د کانونو او صنایعو سر پرست وزیر الحاج مولوي احمد جان له شریعت اوونیزې سره ...

استازو په ګډون یو هیئت وټاکه تر څو په ګډه له کمپنیو او موسسو سره خبري وشي او دوي دا وړاندیز ومانه .

همدا راز له هغوي سره مو په ځیني سیاسي مسایلو هم خبري وکړې ځکه چې د طالبانو د اسلامي تحریك مخالفین پروپاګند کوي چې طالبان د منځني اسیـــا د هیـــوادونو لکه ترکمنستان ، تاجکستان ازبکستان او ... لپاره خطر دي موږ هغوي ته وویل چې په افغانستـــان کې اتلس کاله جهاد وشو او نیم ملیون نفر شهیدان شول خو نتیجه هیڅ په لاس رانغله ، امنیت نه و ، یو د بل وژل و حتي خلکو بیا د هجرت لپاره ګډي وټولي نو موږ ددې لپاره را پاڅیدلو چې هیواد کي سوله امن او شریعت راولو اوّ دا کار مو تر ډیره حده وکړ الحمد لله د هیواد په له سلو نه اتیا برخـــو کي تاسي وینئ چې امنیت تأمین دي خلك په اطمینان سره ژوند کوي. او خارجي اهداف مو دا دي چې له ګاونډیو سره ښې اړیکې ولرو ځکه په ګاونډي هیواد کي چې جنګ او جګړه وي نو تر خوا بل ګاونډي هیـواد کي هم نا ارامي او کشمکش ورسره حتمي دي او د ګاونډي هیواد جنګ او جګړه پرې تاثیر کوي همدا راز موږ ته تجربه او ثابته شوه چې برغلګر پلو که هر څومره ځواکمن وي له ماتي سره مخ کیږي لکه پخوانۍ شوروي اتحاد چې یو وخت د نړۍ لوي طاقت و خو له افغانانو سره په جنګ کې له غوڅې ماتې سره مخ شول موږ هغوي ته وویل چې موږ د چاپه کورنیو چارو کي د مداخلې نیت نه لرو موږ خپل اقتصـــادي مشکل حل کوو او هغوي هم په دې پوهیدل چې څه نور لاسونه شته چې تخریب کوي او موږ دواړه ګاونډي

هیوادونه دوستي ته نه پرېږدي خو الحمد لله د پردیو دا توطیې په نتیجه ورنکړې دوي د طالبانو د اسلامي تحریك نه ډېرې ښې هیلې لري موږ یې هم ډېر ښه استقبال کړو او ډېر خوشحاله ترې راغلو

پوښتنه : پخوا داسي اوازې اوریدل کیدلې چې تاسي د ارجنتاین له بریداس کـمپنۍ سره نښـــجي او مـــوافقي ته رسیدلي وي خو اوس مو د پاکـــستان ، سعودي او امریکا د تقاضا په اساس له یونیکال سره موافقه کړېده تاسي په دې اړه څه وایاست ؟

ځواب : اوازي ، په هر حال اوازې وي او حقیقت نه لري ځکه موږ پخوا هم مطبوعاتو او کمپنیو ته ویلي وو چې موږ له هغه چا سره قرار داد کوو چې افغانســتان ته یې ډېره ګټه ورسیږي او افغانستان ته په ډېر امتیاز قائع کیږي هغه که بریداس وي او که یونیکال او که بله کمپني وي او دا عام تجارتي اصول دي هر څوك که دولت وي که شرکت او که فرد له هغه چا سره قرار داد کوي چې ګټه یې په کې ډېره وي موږ پخوا هم له بریداس او یونیکال دواړو ســره خـــبري کـــړېدي او اوس هم له دواړو ســـره خبري روانې دي او هر یوه چې موږ ته ډېر امتیازاکوي له هماغي سره قرار داد کوو تر اوسه مو له هیچا سره قرار داد نه دي لاس لیك کړي او تاسي پوهیږي چې طالبان په یوه برخه کې هم د چا فشار ته نه دي تسلیم شوي .

پوښتنه : ددې پروژې کار به څه وخت پیل شي او د افغانستـــان لپاره به یې احتمالي اقتصادي ګټه څومره وي ؟

ځـواب : د ګـاز و د پایپ لاین له جریان سره د تیلفون، بریښنا ، د تیلو د پایپ لاین ، ســـرك او د اوســـپنې خط (ریل) موضـوعګاني هم ملګرې دي چې منځني اسیـــا له به ترانزیټي سالونه د ګوادر بندرګاه ته او له دې بندرګاه نه به سالونه منځني اسیـــا ته ځي چې د دې

پولو پروژو تخمیني ګټه به ان شاء الله په یو کال کې د افغـانســتان لپاره زر میلونه دالرهوي .

هندوستان پاکستان او ترکمنستان دري واړه هیـوادونه غواړي چې دا کار ژر پیل شي ځکه هندوستان او پاکستان او نور هیـــــوادونه ګـــازو ته او ترکـمنـــســتـــان یې پلورلو ته سخـت ضـــرورت لري ځکه چې ګـــاز یې د ځمکي لاندې بې فـایدې پراته دي اوس مـــشکل دا دي چې له کـــومي کمپنۍ سره قرارداد وشي دا دري واړه هیـــوادونه په دې تکل کي دي چې داسي کمپني پیدا کړي چې هم دا کار ژر وکـــولي شي او هم دې دري واړو هیوادونه ډېر امـتیـاز ورکړي . او ان شاء الله دا مشکل به هم ژر حل شي .

پوښتنه : ددي کار متخصصین او کارکوونکي به څوك وي او په څومره تعداد نفر به په دې کـار کې مصروف وي ؟

ځواب : کله چې دا کـار پیل شي نو زموږ ټول ماهرین او متخصصین به په کي بوخت وي موږ د واړو کمپنیو ته ویلي دي چي ترکـومـه حـده په افغانستان کې افغاني متخصصین موجود وي نو بهرنیو متخصصینو ته اړتیا نشته . دا ځکه چې افغانانو ته کـار پیدا شي او بله دا ده چې دا کـار ددې کـمپنیو لپـاره هم ښه ده ځکه خارجي متخصصین غټ معاش ، د کـور کـرایه ،پاسـپورت ،ویزه او... غواړي او کوم ځاي کې چې د افغاني متـخصـصیـنـو وس له رسیده بیا به خارجي مـتخـصـصـین راغواړي او په لسګونو ذره نفر به په کي په بیلا بیلو برخوکي مصروف وي .

پوښتنه : ایا تاسي په دې اړه له هغو انجنیرانو او متخصصینو سره چې له هیـواد نه بهراوسیږي څه ارتباط نیولی دي ؟

ځواب : بلې موږ ارجنتاین ته د خپل ســفـــر په وخت کي په جـرمني کي له ډیرو انجنیـرانو ســره چې پخـوایي د کـانونو او صنایعو په وزارت کي کار کاوه کتلي دي همدا راز له هغو افغاني متخصصینو سره مو هم چې د کمونستانو له لاسه مهاجر شویدي او په امریکا او نورو ځایو کي اوسیږي کتلي دي هغوي په ډیري خوشحالي سره حاضر شویدي چې وطن ته راشي او خدمت وکړي .

پوښتنه : زمـوږ په هیـواد کي په دې ځانګه کي متخصصین یا نشته او که شته هم ډیر کم دي تاسي د نویو متخصصینو د روزنې لپاره څه تصمیم لرئ .

• ځـواب : مـوږ په دې پوهیـږو چې په افغانستان کي داسي ماهرین چې د پایپ لاین له کار سره بلد ډیر کم دي له همدې کبله مو د نیراسکا له پوهنتون سره یو قرارداد لاسلیك کـــړیدي چې په هره برخـــه کي د متخصصینو او ماهرینو په روزلوکي زموږ سره مرسته وکړي په همدې لړکي به ان شاء الله په همدې ورځـو کي یو ابتدایي کورس پیل کړو چې دري کاله او څو میاشتي به په کي درس دوام کوي او فارغین به یې په همدې پروژه کي د خدمت لپاره جذبیـږي چې په پیل کې به ددې کـورس لپـاره له ۱۵۰ تر ۲۰۰۰ تنو پوري محصلین جذب شي او دا کورس به همداسي دوام لري.

که روس او هند په افغانستان کي مداخله کوي دومره د...

طالبـانو د اسـلامي تحـریك سـره د پیوستون په غرض لویه جرګه دایره کړې وه مـــوږ ددې غـــونډې له یو تن ګډونکوونکي جید عالم او قبایلي مشر محترم مولوي احمد حسن «لسوندي» سره لنډه مرکه کړیده چې ستاسو دراته حضور ته یې وړاندي کوو :

پوښتنه : محـترم مولوي صـاحب مهربانۍ وکړئ د شریعت اوونیزې لوستونکو ته ځان معرفي کړئ .

ځواب : زما نوم مولوي احمد حسن «لسـوندي» د جنوبي وزیرســتـان د کوټکي د ملکشي د کلي اوسیدونکي په قوم محسـود یره کي یم د دارالعلوم سرحد څخـه فـارغ یم او د پیـنسـور پوهنتون (پوهنتون) د پښتو ځانګي انرژ(فاضل پښتو) یم پخوا په خپله سیمـه کي په یو هاي سکول (منځني ښوونځي) کي اســـتـاد وم او اوس متقاعد یم .

پوښتنه : د کابل له لیدلو نه مو تأثرات څه دي؟

ځواب : مـا لومړي هم د کـابل د ورانۍ او ویجاړ حالت کیسي او تکلونه ډیر اوریدلي وو خو دومره مـو د ورانۍ تصور نه کاوه لکه څومره موږچې کابل وران ولید مثل دي وایي چې ا شنیده کي بود مانند دیده) کابل ښار دومره وران دي او د کـابل په ګوګل دومره د بې رحمۍ ګولۍ لګیدلي دي چې که ددې ښار دیوالونو کورونو او د کانونو ژړلي شوي نو ټول جهان به یې چیغـو نیولي وو مـا د کابل په سره او سپین او د هجـر د ورو او لوګیـــو نه په امن مخ باندي د بې رحمو او بې عاطفې جلادانو د ځپیرو نښي ولیدلي چې د افغانستان روح یې نا ارامه حتی ویستلي وو مـا ددې سیمي د شکلا د ښایېري د غاړې د هارونو داني په ځمکه لویدلي او په ګردونو پټې ولیدلي د اسیا د زړه تکی او معصوم ګلونه (کوچنیان) او د نړۍ د حیا بیلګې او د عصر ملالي مې ولیدلي چې د یوي نسرې ډوډۍ د پیدا کولو په تکل یې یوې خوا او بلې خوا ته د امید لاسونه غزول . دا هر څه د یوې تیرې انساني فـاجعې میـراث او د قـدرت غوښتونکو د هوس قـرباني شوي او ښکار شوي دي .

زه ډیر په دې خفه یم چې دا ورانۍ ډیر د هغه چا په لاس شوي چې د اسلام او جهـاد شعـارونه یې ورکـول(من از بیګانګان هرګز نه نالم که هر چه با من کرد اشنا کرد)روس خو هر څه وکړل ځکه چې د اسلام مسلمان او افغانانو غټ دښـــمـن وو خـــو د دوي په لاس په افغانستان د ورانۍ اورته پیوژي (پکي) وهل د خفګان ځاي دي

دلته لیدل کیږي چې د دولتي ادارو تر ځنګ ډیر زیان ملکي خلکو ته رسیدلي دي دلته د جګړې بین المللي اصـــول تر پښـو لاندي شـویدي او هر چانه کـه ګناهکار و او کـه بې ګناه د ټوپك ژبه ورنلو شوي وه .

زموږ له انګریزانو سره جنګ وو کله به چې هغـــوي زمــــوږ کلي بمبارډ کول نو د الوتکو په ذریعه به یې له هوانه مــوږ ته لیکو نه (خطونه) راوغورځول او موږ ته به یې خبر کړلو چې دا کلي بمبـــارډ کـیږي او خلك دې ووزي خو دلته خلك د وینو تویولو ته خوشحالیدل او د مظلومانو په وینو یې خپل رګونه پړسول .

پوښتنه : په آزادو قـــبـایلو د طالبـانو د اسلامي تحـریك څـه اثر پریوتی دي ؟

ځـواب : ددې تحـــریك له را څرګندیدلو سـره د طلبـه وو ډله هرچا وپیـژندله ځکي په عالم او مولوي خلکو پیژنده خو طالب نه . اوس ددې تحریك په برکت ددې ځاي خلکو خوانه چې د اروپا او امریکا لوبو او ورو هم طالب د یو قهرمان په څیر وپیژنده .

د طالبـانو د اسلامي تحـریك له پیداښت او په افغانسـتـان کي د شریعت د نافذیدلو او امنیت راوستلو سره زموږ د علاقې په طالبانو کي هم د جهاد جذبه توده شوه او یو ځل بیا یې عملاً په جهاد کي برخه واخستې چې ډیر شهیدان هم شول او ډیر اوس هم د طالبـانو په صفونو کي دي کوم طالبان چې دلته شهیدان شویدي باور وکړئ چې مور او پلار یې په شهادت ډیر خـوښ شـول او شکر یې وویـست چې زامن یې د خداي په لاره کي ډیر پاك ارمان لپاره شهیدان شویدي خو بیا هم زه په دې اعتراف کوم چې موږ له طالبانو سره دومره مرسته نه ده کړې څو مره چې د دوي حق وو خوږه وایم چې افغانــــستـان زموږ کور دي موږ پرې ځکي هم سر او وینه ورکړیده بیا به یې هم ورکوو او تر څو چې د قبایلو حـــــتي یوه زنانـه هم ژوندي وي افغانستان ته به څوك په بد نظر ونه ګوري .

پوښتنه : وزیرســـتـــان ته له ستنیدلو وروسته به ستا لومړي کـــارونه کوم وي ؟

ځواب : زه د طالبانو او د دوي په لاس جوړ شوي امارت نه بنې خاطري لرم زه نه پوهیږم چې زه به د طالبانو له ویاړ؟ کارنامي هلته څنګه وستایم زه به هلتـه په کـومو الفـاظو د دوي قدرداني کوم زه یو دیني عالم هم یم او مسجد او منبر مې هم اختیار کې دي زه به هلتـه خلك د وعظ او تبلیغ په واسطه له اسلامي امارت سره همکاري ته وهڅـوم د دوي کـــارنامي به ورته یادي کړم زه به د مظلومو او نیستمنو افغانانو چیغه هم د افغانستـان له حالت نه ناخبره انسانانو ته ورسوم

موږ دلته فیصله کړیده چې به جهـاد کي به عـملاً برخـه اخلو زه به ددې لپاره دوه دري سوه تنه چمتو کوم او رالیږم به یې هلته مو د جلسو کولو لپاره کمیټه ټاکلې ده له هغوي سره مرسته کوم د تحریك سره د مرستو لپاره مو د چندې ټولولو کمیټه ټاکلي ده له هغوي سره منهه را منهه کوم

پوښتنه : محترم مولوي صاحب ستاسو د مرستو او همدردي انګیزه خو به سیمه ایز یـــــا ژبني تعصب نه وي ؟

ځواب : دا خبره نشته ، موږ ددي خبري سوچ هم نه کوو معاذ الله لدي چې موږ فارسي ژبې سره تعصب ولرو موږ له فارسي سره ډیره مینه لرو زموږ خط کتابت اوس هم په فارسي دي ، په مسجد کي د قرآن له یادولو سمدستي وروسته د فارسي پنج ګنج تحفه النصایح او ... وایو موږ ته مهم اسلام او د شریعت نفاذ دي .

موږ د جهـاد په دوران کي له فارسي ژبو مجاهدینو سره هم ډیري مرستې کړیدي که څوك دا خبره کوي چې مـوږ د ژبې یا قـوم لپـاره را پاڅیدلي یو نو دا یو تور او افتراده .

پوښتنه : د افغانستان په کورنیو چارو کي دپردیو د لاسوهنې په هکله څه نظر لري ؟

ځواب : که روس او هند مداخله کوي نو د تعجب خبره نده ځکه دوي ملحدین او مشرکان دي او وظیفه یې له اسلام سره دښمني ده موږ حیران ایران ته یو چې د اســـلامي نظام او اسلامي جمهوریت دعوه هم کوي او بیا د شرعي نظام له راوستونکو سره جنګیږي هم څو ښکاره خبـر ده چې دوي اهداف لري ، هغوي دلته لسانې او مـذهبي تعـصب ته لمن وهي د پښتنو په ضد دسیسي جوړوي د شیعه ګـانو حکمـروایي غـواړي دوي په پاکســـتان کي هم د مذهبي تعصب اوربل کړیدي او دلته هم .

دوي اوس د انګریزانو پالیــــسي باندې عـمـل کــوي انګریزانو به په کراچي کي په دې خاطر چې هندوان او مـــســلمـانـان سره وجنګوي هر راز دسیسي په کار اچولې چې له هغوي نه یوه دا ده چې انګریزانو به خنزیر وواژه بیا به یې د هغه مړ جسد په مسجد کي وغورځاوه او خنزیر چې په اسلام کي د ټولو حیواناتو نه پلید او ناولي حیوان بللي شي مسلمانان به په دې کار هندوانو ته په غوسه وو بیا به یې په دې خاطر چې هندوان هم ولمسوي او مسلمانانو ته یې په غصه کړي غوا چې د هندوانو په مذهب کي نقدس لري حلاله کړ له او د درمسال په مخ کي به یې ګوذاره کړه .

خو مـــســلمانان باید هوشیـار او ځیـرك وي او د کـفـارو اود هغوي د مزدورانو د چلونو په وړاندي بیدار و اوسي .

د سرپرستي شورا محترم مرستیال ...

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ ددغې کتنې په بهیر کي د قبایلو د اجنسیو عالمانو مشرانو، او استازو د افغانستان له اسلامي امارت سره خپل ملاتړ او پیوستون اعلام کړ او ژمنه یې وکړه چې په هیواد کي د اسلامي هدفونو په تحقق د اسلامي نظام د واکمنۍ د دفاع او د ځمکني بشپړتیا د ساتنې په لاره کي هر راز سر ښندنې او ځان تیریدنې ته تیار دي .

ددغې کتنې په پاي کي د سرپرستي شورا محترم مرستیال د اسلامي امارت د ستنو د ټینګښت په لاره کي د قـــــبایلو د دینداره او مـسلمانو خلکو د رول په باره کي هر اړخیـزي خبري وکړي او د هغوي د ښو او اسلامي ولولو له امله یې قدرداني وکړه .

د افغانستان د اسلامي دولت په نامه

د ټولو پیشنهادونو ، لیکونو او د نورو دولتي او غیر دولتي سندونو عنوانونه دي د دولت د کلمي پر ځاي د امارت په کلمه بشکلي کړاي شي . حکم د هغه د صادریدلو له نیټې نه د تطبیق وړ دي . د موسسو او دایرو مسؤولین موظف دي چې د حکم د تطبیق د څرنګوالي څارنه وکړي .

به مناسبت اولین سالگرد ...

ژورنالیســـتان داخلي و خارجي ورزشکاران تیم هاي مختلف ورزشي و تعداد کثیري از علاقه مندان ورزش اشتراك ورزیده بودند .

جشنواره با تلاوت آیات چند از مصحف پاك توسط محترم قاري احمد شکیب ،آغاز گردیده متعاقباً محترم ملا عبدالشکور «مطمئن» رئیس کمیته ملي المپیك و تربیت بدني امارت اسلامي افغانستان ضمن آنکه تشریف آوري مهمانان در این جشنواره را خوش آمدید گفتند، ورزش را از دیدگاه دین مقدس اسلام به بررسي گرفته توضیحات در زمینه ارائه داشتند .

بعداً محترم مولوي صاحب پیر محمد «روحاني» رئیس پوهنتون کابل، ضمن سخنراني عالمانه شان برگزاري همچو جشنواره هاي ورزشي را در میـان جوانان کشور بك قدم نیك و متعالي تلقي نمودند . سـپس رسم گـذشت ورزشي توسط صـدها تن از ورزشکاران تیم هاي مختلف انجام پذیرفت .

در پایان این جشنواره، مسابقات جالب ورزشي از جـانب ورزشکاران تیم هاي پهلواني، بکسنګ، جمناستیك، پرورش اندام، جیدو، تیکواندو، کانګفو، تیکواندو پامسه، کانګفوتوا ، بایسکل راني، کرکټ، ریسمان کشي، فتبال و حرکت ګذشت موتر از بالاي شکم ورزشکار اجرا ګردید که در هر بخش از جانب ورزشدوستان با نعره هاي (الله اکبر) مورد تشویق و تمجید قرار میګرفتند .

غربیان اسلام د خپل لوی ...

برغلګر کلتور په اساس اسـلام د خـپـل لوي دښمن په توګـه پیژني او له بله پلوه په اسلامي امت کي د همـغـږۍ نشـتوالي اسلامي امت له جدي ستـونزو سـره مخ کـړیدي نو باید چې اســـلامي امت یو شي او په اســـلام باندي د غربیانو د ناځوانمردانه یرغل مخه ونیسي ده وویل ، اسلامي پوهان بوازي له غـرب سـره په مقابلي باید بسوالي ونکړي او خلك د اسلام د سپېڅلي دین په حقانیت وپوهوي او دا ورته جوته کړي چې اسلام یوازینې دین دي چې ګمراه اولا لهانده بشریت نه د اتومي عصر له فتنو نه خلاصون ورکړي .

موسسه پاملرنه در نظر ...

و فرعي در این پروژه قرار دارد ، به شکل پخته و اساسي اعمار ګردیده است .

محترم انجنیر داد محمد مسؤول این پروژه به خبرنګار ما اظهار داشت : پاملرنه در نظر دارد به منظور اسایش هر چه بیشتـر اهالي پروژه رحمن مینه ، هزار باب تشناب عصري را طور رایګان به شکل بنیادي براي مردمان این محل اعمار نماید، وي اضافه داشت که آنعده کارګرانیکه در اکمال این پروژه کـار میـنمایند، روزانه از یك سیر ګندم مستفید میګردند .

خبرنګار مـا مي افزاید: اعمـار کـانال پروژه رحمن مینه نشاندهنده این حقیقت میباشد که امروز آنعده از موسسات خارجي که در امور باز سازي کشور ما فعالیت دارند تحت حمایت و اهتمام خاص امارت اسلامي افغانستان قرار داشته و زمینه هاي بهتر کاري براي شان فراهم میګردد.

محترم الحاج ملا محمد رباني ...

معیار ها و اموال اسلامي و بین المللي برابر بود و واقعاً امارت شرعي اسلامي میباشد . مخالفین امارت اسلامي افغانستـان مطابق به احکام اسلام مفسدین و باغیان شمرده میشوند .

متعاقباً محترم رئیس شوراي سرپرست امارت اسلامي افغانسـتان ورود علماي کرام قبایل را به کشور خیر مقدم ګفتـه از این احســـاس نیك و اسلامي علماي ګرام قبایل قدرداني نمودند و استـقرار امارت اسلامي و انفاذ شریعت غراي محمدي را در کشور نتیجه قربانیها و فداکاري هاي مسلمانان کشور دانستند .

در این ملاقات مولوي محمد صادق و مولوي عبدالرشید از ایجنسي باجور ، محترم مولوي مطیع الحق و مولوي محمد صادق از ایجنسي مهمند ، محترم مولوي داود شاه و مولوي عزیز الرحمن از ایجنسي خیبر ، محترم مولوي حسیب ، اصغر و مـولوي فضل المنان از ایجنسي اورکزي، مـولوي شیر محمد و مولوي سلطان شاه از ایجنسي کرم، محترم مولوي سلیم ګل و مـولوي نیك بهادر از وزیرسـتان شـمـالي، محتـرم مـولوي صـالح شـاه و مولوي عبدالعزیز از وزیرستان جنوبي اشتراك داشتند .

د قبایلو د لویې جرګې ...

مخالفت کوي هغوي د اسلامي اصولو په رڼا کي باغیان بلل کیږي نو لهذا هر هغه څوك چې د قبایلو په سیمو کي د اسلامي امارت په خلاف پروګرامونه جوړوي قبایل به له هغو سره مخالفت کوي او له خپلو سیمو څخه به یې شړي .

٤- اســلامي امـارت چې کـــوم اســـلامي شریعت نافذکړي چې قاتل قصاص کړي، له غله نه لاس پرې کـوي زاني سنګسـار کـوي، شرعي حجاب عملي کوي، نامحرمه ښځي او نارینه سره جدا کوي او داسي نور د قبایلو علماً کرام او قـومي مشـران ددغـه نظام په کلکه سـره مـلاتړ کوهاو دا یو مقدس شرعي نظام بولي.

٥- د قـبـایلو سرتاسري جرګه په افغانســتان کي هر ډول ناروا مداخله په کلکه سره غندي او په مـداخله کـونکو هیـوادونو ږغ کـوي چې ژر تر ژره دې په افغانستان کي خپله ناروا مداخله بنده کړي .

٦- آزاد قـبایل افغـانســـتان خپل دوم کـور شمیري نو لهذا په خپل ټول توان به د خپل کور له سرحداتو نه دفاع کوي .

٧- د قبایلو د ا تو ایجنسیو نمایندو علماً کـرام او قـومي مـشـران د طالبـانو د اسـلامي تحریك له مشرانو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د هیڅ کوم خارجي فشار له امله دې په خپلو شرعي پالیـــسیو کي تغییر او نرمي را نه ولي او په خپل اوستي دریځ دې ټینګ پاتې شي.

نهه تنه قوماندانان له ...

مجاهدینو سره یو ځاي شول .

د افغانستان له اسلامي امارت سره یو ځاي شوي قوماندانانو د افغانستان له اسلامي امارت سره د ملاتړ او پیوستون د اعلامولو په ترڅ کي تیـاري څرګند کړ چې د اسلامي اردو له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د ملحدو کمونستو او د شر او فساد د عناصرو او ګلم جم د ملیشو د ییخي پوپناه کولو په لاره کي کار او مبارزه کـوي او په دې لاره کي هر راز سر ښندني او ځان تیریدني ته تیار دي . د یو بل خبر له مخې د اسلامي اردو د مجاهدینو د هغو تصفیوي عملیاتو په نتیجه کي چې په دې وروستیو وختوکي د کونړ ولایت د نورګل ولسوالۍ په مربوطاتو کي وشول یو دوه اتیا ملیمتري توپ د یې ام یو یوه دستګاه دوه داشکي دوه ژیکویو او یو هاوان تر لاســـه شویدي .

دغه راز د امنیتي موظفینو د تصفیوي عملیاتو په ترڅ کي یوه اندازه ډول ډول وسلې او مهمات د کونړ ولایت د مزار د دري دځنګل باغ له سیمي نه تر لاسه شویدي .

دوه جهادي قوماندانان ...

د اسلامي امارت په ریښتینولي باندي په پوهیدو سـره یوه اندازه درنډي او سپکي وسلي له یوي اندازي ډول ډول مهماتو سره د لوګر ولایت د امنیه قوماندانۍ امنیتي موظفینـو او مـسـوولینو ته وسپارلي او د افغانستان له اسلامي امارت سره یې خپله همکاري څرګنده کړه .

په لغمان کي د نظار ...

استخباراتو د ریاست د موظفینو د هلو ځلو له امله له خپلو پیسو سره ونیول شول .

د موضوع څرنګوالي تر تحقق لاندي دي .

د فراه ولایت کي ویری ...

ګولۍ د دوه اتیا ملیمتري توپ شل ګولۍ او پنځه اویا ملیمتري توپ پنځلس ګولۍ .

تعمیر جدید شفاخانه انتاني ...

این تعمیر جدید در صحن شفاخانه انتاني اعمـار شده و داراي سي ودو اطاق و تمـامي

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

په کـــابل کي د قبایلو تاریخي سرتاسري جرګه

په کابل کي د آزادو قبایلو سرتاسري جرګې یو ځل بیا دا خبره ښه روښانه کړه چه د افغانستان د اسلامي امارت او د طالبانو د اسلامي تحریك د مسؤولینو مدبرانه سیاست او کړنلاره د مسلمه امت د تائید وړ او د هغوي د سپیڅلو ارزوګانو انعکاس کونکي دي .

د افغانستان په زړه (کابل) کي د څلور سوه قبایلي علما ، کرامو ، قومي مشرانو او مخورو دومره لویه تاریخي جرګه چې ټول ګډون کوونکي دي د یوې ریښتیني جذبې له مخې په خپله خوښه راټول شوي وي زموږ د ملك په نږدې تاریخ کي بې ساري نه لیدل کیږي دا چه د جرګې په پریکړه لیك کي زموږ په هیواد کي له نافذ اسلامي شریعت څخه ملاتړ وشو، د اسلامي امارت مخالفین باغیان وبلل شول، د افغانستان د سرحداتو حفاظت د قبایلو استازو خپله فریضه وګڼله، مداخله کوونکي هیوادونه یې محکوم کړل او د اسلامي امارت او د طالبانو له مشرانو څخه یې د لا ټینګ شریعت او په اوسني دریځ باندي د ټینګار غوښتنه وکړه او هم یې د اسلامي امارت د مسؤولینو له چلند ، او میلمه پالنې څخه خوښي ښکاره کړه، نو څرګندیږي چې نوموړي جرګه د اسلامي امارت د کړنلارو ، ملي او نړیوالو سیاستونو او پالیسیو څخه راضي او له هغه څخه کلك ملاتړ کوي، د ډیرو واقعبینو څیړونکو له نظره نوموړي جرګه نه یوازې د څو ورځو ناسته او میلمستیا وه بلکه زموږ د هیواد په اوسنیو تازګو سیاسي او امنیتي اړخونو کي مثبت بدلون ګڼل کیږي دا ځکه چې له یوې خوا په هیواد کي موجوده نافذ نظام له هیواد نه بهر د مسلمه امت د جیدو علما ، کرامو له خوا تائید شو ، له بلې خوا د هیواد په سوونو کیلو متره سرحد به د تل لپاره د باغیانو او لوټ مارانو له غلچکیو بریدونو څخه ان شاء الله محفوظ شي او هم دا خبره ثابته شوه چه د افغانستان اسلامي امارت د مسوولینو سیاست او کړنلاره نه یوازې دا چې د هیوادوالو د زړونو ارمان دي بلکې د نړۍ د ټولو واقعي او حقیقیه مسلمانانو د زړونو ریښتینې ارزو هم ده او دا ټول ددې ښکارندوي دي چه د اسلامي امارت محبوبیت ورځ په ورځ زیاتیدونکي او بنیادي ستنې یې مخ په ټینګیدو دي او دا ډول پر مختګ زموږ ظلم ځپلي ملت ته د خوښي او نیکبختي یو ښه زیري دي .

نو زموږ د دین ، مذهب او هیواد دښمنان باید په دې ښه پوه شي چه زموږ په اسلامي اصولو ولاړ سپیڅلي نظام د ټولو اغیارو په مخکي د لوي خداي«ج» په فضل یو نه لړزیدونکي دیوال او مضبوط ډال دي او د اسلامي امارت نه بدلیدونکي دریځ له پوره ملي او سیمه ایز ملاتړ څخه برخمن او د یوه روښانه او بختور مستقبل زیري دي .

دا خبره د یادولو وړ ده چې د افغانستان د اسلامي امارت او د طالبانو د اسلامي تحریك کړنلارې ، ملي ، سیمه ایز او نړیوالې پالیسي او سیاستونه نه یوازې زموږ د مسلمان ملت او د آزادو قبایلو د مجاهدو خلکو د تائید او قبول وړ دي بلکه د سیمې د ځینو واقعبینو ملکونو د تائید وړ هم دي د بیلګې په توګه د ترکمنستان د جمهور رئیس مرستیال او د بهرنیو چارو د وزیر شیخ مرادوف له هغه څرګندونې نه چې د اسلامي امارت له ورغلي هیأت سره یې په خبرو کي کړي ښکاریږي هغه په خپلو څرګندونو کي ویلي دي چې « کله طالبان زموږ سرحد ته رارسیدلي سره د دې چې زموږ او افغانستان تر منځ په سوونو کیلومترو ګډ سرحد دي موږ ته یې تر اوسه د یوه وینښته قدر تکلیف نه دي رسولی» د یورتنې مدعا ښکاره ثبوت دي

نبایي نور ګاونډي هیوادونه او خاصتاً د ایران خرقه پوش واکداران له دې څخه ښه درس واخلي او پوه شي چې د ښو بدله ښه وي ، د اسلامي اخلاقو او انساني چلند ځواب په نبوي اخلاقو سره وي، نه په فرعوني فکر او تکبر سره . ښه چلند نه یوازي دا چه د مقابل طرف په ګټه دي بلکي د دواړو طرفونو خیر په کي دي نن که ازاد قبایل په سر او مال د افغانستان د اسلامي امارت د سرحداتو د حفاظت ژمنه کوي او یا اسلامي امارت د قبایلو سره د زړه له کومي محبت کوي نو که له یوې خوا دو طرفه اړیکي د اسلامي اصولو او ضرورتونو له مخې دي له بلې خوا قبایل له هغه لوي مشکل نه د اسلامي امارت د بریالیتوب په سبب خلاصیږي چه په سیمه کي به یې چا قتل غلا او کوم بل جرم وکړ او بیا به افغانستان ته راغي وروسته له دې نه به انشاء الله هغه ټول خطرات له منځه لاړ شـــي او په سیمو کي به یې بشپړ امنیت ټینګ شي .

نو څومره به ښه وي چه نور ګاونډي هیوادونه هم د اسلامي اخلاقو په رڼا کي داسي پالیسي خپله کړي چه هم د دوي په کي ګټه وي او هم نې د ګاونډیانو مشروعه حقوق تر پښو لاندي کړي نه وي .

د افغانستان د اسلامي امارت تولي ملي ځلي ...

اسلامي اردو ځواکونه په هر رنګه شرایطو کي د ددې توان لري چې ان شاء الله په شمال کي مخالفین د غوڅې ماتي سره مخامخ کړي لکه چې مخکي هم په شمال کي داسي وشول او له دغه ازمیښت څخه د اسلامي اردو ځواکونه بریالي راووتل ، خو دا چې د بهرني لاس وهنې یعني د ایران او روس په ښکاره ملاتړ په شمال کي زمونږ د بې ګناه هیواد والو ژوند له سخت خطر سره مخامخ کیده نو د افغانستان اسلامي امارت دا لازمه وګڼله چې مؤقتاً خپل تصفیوي عملیات بند او خپلو مخالفینو ته وخت ورکړي تر څو د سلیم عقل څخه کار واخلي.او واقعیتونوته غاړه کیږدي .

د افغانســتان اسلامي امارت هیڅوخت د جګړې له لارې د سولې په راتللو تاکید نه کوي او په ټول توان سره هلې ځلې کوي چې د خبرو او مفاهمې له لارې سوله تأمین کړي په دې شرط چې مخالفین هم خپل ریښتینولي او صداقت په عمل کي ثابت کړي او که نه دا د افغانستان د اسلامي اردو د مجاهدینو دیني او ملي دنده ده چې په شمال کي لکه د هیواد د نورو سیمو په څیر د الحاد، کمونیزم بې دینۍ او د شر او فساد په ځالو یرغل وکړي او د خپلو مؤمنو خلکو په ملاتړ سره د یاتي سیمو په څیر هم د الحاد کـــــپله پولا کړي . او په دې لاره کي «حـــسبنا الله و نعم الوکیل نعم المولي و نعم النصیر» زموږ شعــــار او متکا ده .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Movement of Taliban - Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Add: House # 520, str#11,
Wazir Akbar Khan Minah,
Kabul - Afghanistan, Tel # : 21381
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar